مورچل

ولس له چا سره دی
او د کوم جرم سزا کالي؟!

دوولسم کال، نهمه، پرلپسې۱۲۱مه گڼه،
ذي الحجة-محرم ۱۴۳۹هـ ق سپتمبر ۲۰۱۸م

- د پرون باغیان د نن اتلان
- په ټرامپ نړۍ وخندېده!!
- برادر مجاهدم، سرباز رسانه ای باش!
- بلیک واټر ته د جګړې سپارلو بدمرغه طرحه!
- رژیم کابل و انتخابات احتمالی

مورچل

علمي، سياسي او جهادي مياشتنۍ خپرونه

دوولسم کال نهمه، پرلپسې ۱۲۱مه ګڼه،
ذي الحجة-محرم ۱۴۳۹هق سپتمبر۲۰۱۸م

لړليك

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	د پرون باغيان او د نن اتلان.....	۳
۳	رژيم کابل او انتخابات احتمالی.....	۶
۴	برادر مجاهدم، سرباز رسانه ای باش!.....	۹
۵	جهادي متحولين.....	۱۳
۶	په ټرمپ نړۍ وخندېده.....	۱۵
۷	هاګ ته د امريکا ګواښونه او د نړۍ مجرمانه چوپتيا....	۱۷
۸	بلک واټر ته د جګړې سپارلو بد مرغه طرحه!.....	۲۱
۹	د غازي شهيد محبوب الله فاروق ژوند پاڼه او شهکاري.	۲۴
۱۰	۱۸ کاله وروسته د خليلزاد سوله ايز ماموريت !!.....	۲۷
۱۱	د سالم فطرت نه د بغاوت نتائج.....	۲۹
۱۲	د اسلام غزوات او سرايا.....	۳۳
۱۳	جنګي جنايتونه (سپتمبر).....	۳۵
۱۴	د مورچل وږمې.....	۳۷
۱۵	د ۲۰۱۸م کال د اګست مياشتې جهادي خبرونه.....	۳۹

د امتياز خاوند

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير

صلاح الدين "صارم"

کتنپلاوی

حسن خېل | ايوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبير مسافر | حافظ سعيد

تخنيکي چارې

دفرهنګي کميسيون تخنيکي څانګه

مکاتباتي ادرس

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

ولس له چا سره دی

او د کوم جرم سزا ګالي؟!

نړۍ شل کاله کیږي چې پرهیواد مسلط غاصبین دخلکو په سترګو کې همدا خاورې وراچوي چې مونږ دلته جګړه دولسواکۍ دحاکمیت لپاره روانه کړې اودا ټولې هڅې مو دهمدې لپاره دي، نن چې ولس تربل هروخت ډېر داور په لمبو کې وریتیږي اوهماغه دولسواکی! داستحکام لپاره استخدام الوتکو تر سختو بمبارونو لاندې نیولی، دابنیيي چې یرغلګر اوس دخپلې اوږدې جګړې انتقام له ولسه اخلي او اوس په دې پوه شوي چې روان مقاومت دولس غږ او اراده ده، ځکه خو یې په ټول هیواد کې په ولسي خلکو قتل عام جوړ کړی، له ځمکې پرې غدی اچوي او له هوا یې پرې د ډول ډول بمونو بمبار ته زور ورکړی.

سیمه ایيز او نړیوال بشري سازمانونه، یونیسف، دبښنې نړیوال سازمان، دبشري حقوقو نړیوال کمیسیون، دملکي تلفاتو اداره ... ټول چپه خوله دي، سره له دې چې دبشر دحقونو نړیوال

سازمان وايي : " په نړۍ کې انسان دانسانيت له مخې بايد له خپلو ټولو حقوقو برخمن وي او په هيڅ ډول يې ادنی حق هم ترپښو لاندې نه شي" ولې په مجموع کې داسلامي نړۍ او په ځانګړې ډول دافغانستان مظلوم ولس، ښځې، ماشومان، سپين ږيري او ځوانان له خپلو ټولو حقه حقوقو په جبر ، ظلم او وحشت بې برخې کيږي او ژوند ترې اخيستل کيږي، خو دوی نه يواځې داچې ورته په کاردي هغسې اواز پورته کړي، بلکې دخپل نوم اوکار له مخې هم ادنی غږ نه پورته کوي، نو په څه ډول به بيا د دې حق ولري چې بل چاته دملامتۍ ګوته ونيسي ؟!

هغه قوم چې شهادت يې افتخار وي کله په وژنوله خپلې حقې داعيې نه ځوک په زور تبرولی شي،جنرال ميلر اوټول پوځي پرسونل يې په دې ښه پوه دی، چې داخلک هيڅکله له مبارزې لاس نه اخلي يواځې دخپل قساوت له مخې يې په مظلومو هيوادوالو دوحشت وربخې را ټيټې کړې دي اودا هغه څه دي چې له ده مخکې جنرالانو دلته په همدومره شدت اوبې رحمۍ ترسره کړي دي، خونتيجه يې دکاري مودې ناکامي يادە شوه اوخائبين له دې ځايه رخصت شول .

که امريکايان دلته هرځومره په ټينګوعزايموراغلي وي اوهرځومره طويل المدت پلانونه له ځان سره لري، دغه يوڅه دې په ياد ولري : چې ترځوپه دغه ملت کې ددين روح ژوندی وي که هرځومره دژوند کړۍ پرې سخته هم شي په ډبر لوړ مورال به د دين اوهيواد داستقلال لپاره مبارزه کوي اوهيڅکله به ترې لاس په سر نه شي . روسان تردوی هم په ټينګوارادو او ستروارمانو سره راغلي وو چې دغوارمانو ته درسېدو لپاره يې د يونيم مليون افغانانو وينې توی کړې، خو افغانانو بياهم له مبارزې لاس وانخيست اوانقلاب يې د بري ترپولې ورساوه .

نور بايد نه امريکايان اونه يې هم دکابل لاسپوڅي دولس نوم ياد کړي اونه دې دنورې نړۍ ولسونوته په دې نامه په سترګوکې خاورې اچوي، دا ولس رښتينی مسلمان ولس دی، له پېړيو يې رهبري د دين علماوو کړې او دعمل په ميدان کې يواځې او يواځې په هغوی پسې اقتدا کوي او بس .

د پرون باغیان د نن اتلان

حاجي فتح خان دومړ کمالزی

خالد افغان زوی

یادونه: سید خیرمحمد عارف د بلوچستان اوسیدونکی د پښتو ژبې وتلی لیکوال دی. نوموړي کلونه وړاندې په بیلابیلو ځایي ادارو کې هغه ارشیفونه کتلي چې د انګریزانو له وخت څخه پاته دي.په دې ارشیفونو کې له اوس نه سل کاله پخوا د هغو مجاهدینو دوسیې په لاس ورغلې دي چې د انګریزي استعمار او اشغال په زمانه کې یې د انګریزانو په خلاف جهادکاوه. دغه نوموړکي اتلان چې هغه وخت به باغیان یا د اوسنیو مجاهدینو په شان ترهګر بلل کېدل، اوس د تاریخ ویاړمن اتلان او قهرمانان بلل کیږي چې له سوانحو یې خیر محمد عارف کتاب جوړ کړی دی.

موږ هڅه کوو چې په دې لړۍ کې په اختصار سره د همدې غازیانو د ژوند صحنې، د هغوی اتلولۍ او دا چې څرنګه یې په تش لاس د اوسنیو مجاهدینو په شان د اشغالګرو په خلاف جهاد کاوه او بیا څرنګه په مظلومیت او بې رحمۍ سره اعدام شول تر دې چې قبرونه یې هم ورک شول. په دې برخه کې به یې ان شاءالله ځینې نمونې درته وړاندې کړو. تر څو یې له کارنامو خبر او تاریخي تنده مو پرې ماته شي.

حاجي فتح خان دومړ د کاکړستان د سملن سیمې د چنلیز اوسیدونکی هغه ۲۵ کلن ځوان مجاهد و چې له اوس نه سل کاله پخوا په کال ۱۹۱۸ میلادي کې هغه وخت چې په دې سیمه د انګریزانو استعمار و، نوموړی له یوې تورې سره تک تنها خپل کلي ته نږدې د انګریزانو په قرارګاه ورننوت، درې انګریزان یې په توره ووژل، وروسته د انګریزي عسکرو د ټوپکو په ډزو زخمي او ژوندی ونیول شو. انګریزانو یې زخمونه معالجه کړل او بیا یې تحقیق ترې وکړ. له نوموړي نه شوی تحقیق د ده په دوسیه کې خوندي دی چې خپله سرګذشت یې داسې بیان کړی دی.

زه د ځوانۍ په مرحله کې وم، کار روزګار مې بزګري وه، خو زما له جهاد سره ډیر شوق و،بل

ارمان مې دا وه چې بیت الله شریف تـه لاړ شـم او حج وکړم. نو ما د حج د پیسو پیدا کولو لپاره خپله ځمکه خرڅه کړه، خپلې ښځې ته طلاق ورکړ. خپل وسله (توره) مې په کور کې پټه کیښوده او د حـج په سفر ووتم. بیت الله شریف تـه پـه رسـیدو مـې حج ښه په تسلي اداء کـړ. خـو هلتـه پیسـې راسره خلاصـې شـوې او د بیرتـه راتـګ پیسـې مـې نـه درلودې.

هلته خبر شوم چې په مصـر کـې لـه کـافرانو سره غزا روانـه ده (دا وخـت د اول نړیـوال جنـګ کلونه وو، انګریزانو د مصر له اړخه په سویز کانـال برید کړی و او په مقابل کې یې د عـثماني خلافـت مجاهدین جنګیدل) زه په همدې غزا کې د شرکـت په موخه روان شوم، خو دپیسـو نـه شـتون مـې پـه مخکې خنډ و. تر دمشق پورې ورسیدم، هلته مـې دوه نور پښتانه مجاهدین هم ملګري شول چې یو د بنـو اوسـیدونکی حـاجي محمـد او بـل د غـزني اوسیدونکی حاجي سیف الدین وو. حـاجي سـیف الدین د خامکین په سیمه کې مریض او له موږ نـه پاته شو، وروسته د حاجي محمد اراده هم بدله شو او زه هم د نه خرڅ له امله په مخ نه لاړم او بیرته د کور په خوا کرار کرار را روان شوم.

د عربستان او ایران په لاره د راتګ پـه وخـت به مې څه وخت مزدوري وکړه، لـږ خرڅـه بـه مـې برابره کړه او بیا مې مزل ته دوام ورکړ تر دې چـې د کرمانشاه په لاره همدان ته راورسیدم. ورپسې د ایران مشهد ته راغلم او د کهسان په لاره هرات تـه راورسیدم. له هراته کندهار او ورپسـې چمـن او د یارو سیمې ته راغلم. لـه هغـه ځایـه مخـامخ خپـل کلي چنلیز ته راغلم.

دا وخت چې ما یو کـال د حـج پـه سـفر تیـر کړی و، بیا مې هم ټینګـه اراده و چـې لـه کـافرانو سره به جهاد کوم او د شهادت مرګ مـې ارمـان و. ما خپله توره چې په کور کې خوندي کـړې وه هغـه مې را وایسته. د دوکې سیمې اوسیدونکی مولـوي عبدالغفور اخنـدزاده زمـا پیـر او مرشـد و، زه څـه وخت د هغه ځای تـه لاړم او څـو شـپې مـې ورسره وکړې.

کله چې بیرته خپل کلي چنلیز تـه راغلـم، نـو ومې لیدل چې زمونږ کلي ته نږدې انګریزانو پـوځي کیمپ جوړ کـړی دی او خیمـې یـې درولي دي. د انګریزانو په لیدلو مې جهادي جذبه راپورتـه شـوه، مخامخ کورته لاړم او خپله توره مې را واخیسـته. د شپې په څلور بجې تک تنها د انګریزانو دکیمپ په خوا ور روان شوم. پر کیمپ را تاو شوي تارونه مې غوڅ کړل. لومړی په یوه خیمـه ورغلـم او پـه پیـره دارمې د تورې ګوزار وکړ. پیره دار په ټوپک ووهلم خو ما خیمه په توره څیرې کړې او منځ ته ورننوتم. په خیمه کې په پرتو عسکرو مې تـوره راسـمه کـړه، درې تنه عسکر مې ځای په ځای ووژل، پـه ځلـورم عسکر مې هم د تورې وار وکـړ خـو دا وخـت پیـره دار د ټوپک ډز راباندې وکـړ، زه زخمـي شـوم او د ژامې هډ مې مات شو. زه ځای په ځـای ولویـدم او بې سده شوم.

انګریزانـو زه روغتـون تـه وړی وم او څـو میاشتې یې علاج راباندې کاوه تر دې چې روغ شوم. بیا یې لـه مانـه تحقیقـات شروع کـړل، قسماقسـم تعذیبونه او تکلیفونه یې راکـړل، خـو زمـا دغـه یـو بیان او تحقیق دی چې زه په خپلـه خوښـه راپورتـه شوی یم، ما له کـافرانو سره غـزا کولـه او دا مـې د ژوند تر ټولو ستر ارمان و.

د پنځه ویشت کلن تورزن مجاهد فـتح خـان په اړه د هغه وخت انګریز پولیټکل ایجنټ (میجـر سي، او، بروس) فرمان صادر کړ چې فتح خـان دې د مرګ تر وخته په دار را خوړند کړل شي. له مرګ وروسته دې د هغه جسد د زندان په احاطه کې تـر خاورو لاندې شي او خاورې دې داسې پرې هـوارې شي چې قبر یې هیڅوک هم پیدا نه کړای شي.

د دوسیې دمعلوماتو له مخې د دې حکـم پـه اساس د ۱۹۱۸ میلادي کال د دسمبر پـه شپاړسـمه د سهار په اته نیمې بجې غـازي فـتح خـان پـه دار راخوړند شو او په شهادت ورسول شو.

خوان اتـل فـتح خـان لـه دنیـا لاړ، خـو خپلـه ایماني وظیفه یې تـرسره کـړه، د دیـن او ولـس پـه دښمنانو یې خپل زړګی یخ کړ، که څه هم هغه پـه خپل وخت کې بـاغي او دهشـتګر وبلـل شـو او پـه همدې جرم په دار وځړول شو. خو د اوسـني نسـل لپاره هغه اتل دی چې د تاریخ په کتـابونو کـې یـې نوم په روښـانه ټکـو لیکـل شـوی دی. انګریزانـو د هغه د قبر د آثارو په محو کولـو سره کوښښ وکـړ چې هغه اتل دتـاریخ لـه حـافظې محـو کـړي. خـو حقیقت کله څـوک پټـولی او محـو کـولای شي. دا دی د هغه ګمنام اتل د نوم د ژونـدې پاتـه کیـدلو لپاره خپله د انګریزانو دوسیې سبب شوې. چې تـر ننه یې کارنامې ژوندۍ راپاتـه دي.

دغه ټول جریان که د نن سـبا لـه حـالاتو سره مقایسه کړو ډیر څه ترې زده کیږي. هغه دا چې د نن مجاهدین چې دنیـا یـي باغیـان او دهشـت ګـر بولي سبا به د خپل اولس او اسلامي تـاریخ لپـاره د ویاړ ځلي او د افتخار منارونه وي او د غـازي فـتح خان په شان به یې اولسونه په کارنامو ویاړي.

رژیم کابل
وانتخابات احتمالی

حبیبی سمنگانی

آگاهان اتفاق دارند که امریکا در طی ۱۷ سال و با مصارف بیش از یک تریلیون دالر نتوانست رژیم خودکاشته اش را در افغانستان به دولت تناور تبدیل بکند و یا هم حد اقل ارگان های نظامی رژیم را به پاهای خود استوار بسازد. سیر نزولی حکومتداری رژیم در عرصه های سیاسی، نظامی و اقتصادی سرعت یافته است و به یقین می توان گفت که رژیم چند سرهٔ کابل در بدترین وضعیت قرار دارد. واقعیت اینست چنانکه ایجاد رژیم چند سره حماقت بزرگ امریکا بود، اصرار بر بقای این رژیم نیز حماقت بزرگی است. تداوم این رژیم تنها می تواند مشکل امریکا و مردم افغانستان را بیفزاید و بس.

انتخابات ریاست جمهوری ۲۰۱۴ باور نسبی مردم بر روند انتخابات در افغانستان را از بین برد. سپس جریانات سیاسی چهار سال اخیر، مثلا : تشکیل رژیم چند سره، اختلافات روز افزون سران رژیم، ناتوانی اشرف غنی و عبدالله در برابر زیردستان، موقف های متضاد سیاستمداران، غلبهء سیاست های نژادی، لسانی و سمتی و..... چهرهء واقعی، مغرضانه و قدرت خواهانهء سیاستمداران را برای افغان ها روشن و مبرهن ساخت. بلی، سیاستمداری نبوده است که درین چند سال گذشته بر نیکنامی خود افزوده باشد و یا حد اقل قدر و منزلت نسبی خود را حفظ کرده باشد. همه فاش شدند، رسوا و رو سیاه شدند.

از همینست از روزیکه بار دیگر سر و صدای انتخابات پارلمانی و ریاست جمهوری داغ گردیده است، سوال های تلخی در ذهن مردم خطور می کند. افغان ها می دانند کرسی های ارگ، وزارتخانه ها و پارلمانِ رژیم کابل (و حتی ریاست های خورد و بزرگ) در حقیقت از سوی کاخ سفید و پنتاگون توزیع می گردد، اما امریکایی ها پروسه ای را بنام انتخابات به راه

انداخته از یکسو جامعهء جهانی را فریب می دهند (که گویا زمامداران افغانستان در نتیجهء یک عمل دموکراتیک انتخاب می شوندو به قدرت می رسند) و از سوی دیگر آتش تفرقه و عصبیت های قومی، نژادی و سمتی را در جامعهء افغانی داغ تر ساخته، برای تداوم اشغال زمینه سازی می کنند.

پول های هنگفت دالری که در مبارزات انتخاباتی افغانستان صرف می شود در بسیاری از کشورهای پیش رفته و یا مترقی حتی متصور هم نیست. بلی، هر کدامی از کاندیدان مطرح ریاست جمهوری صدها ملیون دالر در کمپاین های انتخاباتی شان خرج می کنند. قابل ذکر است که کاندیدان ریاست جمهوری از روی قانون انتخاباتی سال ۲۰۱۴م اجازه نداشتند که بیش از ۱۰ ملیون افغانی در مبارزات انتخاباتی خرج بکنند، اما واقعیت اینست که کاندیدان مطرح در سطح هر ولایت و حتی در بعضی جاها در سطح یک ولسوالی بیش از ۱۰ ملیون افغانی صرف کرده اند.

جای تعجب اینست که این کاندیدان هیچ منبع قانونی و رسمی برای جمع آوری این پول ندارند. بلی، کاندیدان ریاست جمهوری امریکا در جریان مبارزات انتخاباتی حدود دو ملیارد دالر خرج می کنند، اما امریکا کشوری است که خود را یگانه ابر قدرت عصر- می داند، ۳۲۵ ملیون جمعیت دارد (سومین جمعیت بزرگ جهان) ، ۱۹ تریلیون دالر تولید ناخالص داخلی امریکا است (دوم در سطح جهان) و هر فرد امریکایی حدود ۶۰ هزار دالر درآمد سالانه دارد. به تعبیر آسانتر، مصارف انتخاباتی امریکا به یک در صد عوائد مجموعی آن کشور هم نمی رسد، اما بالمقابل افغانستان با جمعیت سی ملیون نفری و در حالیکه درآمد سالانهء هر فرد افغانی به ۶ صد دالر هم نمی رسد چگونه می تواندصدها ملیون دالر را در مبارزات انتخاباتی صرف بکند.

در امریکا و یا بیشتر کشورهای جهان، نظام قانونی جمع آوری پول برای مبارزات انتخاباتی وجود دارد و کاندیدان تا حد زیادی نمی توانند ازان نظام سرپیچی بکنند. اما در افغانستان نه نظام وجود دارد و نه هم کاندیدان پاسخگو هستند که این پول هنگفت را از کجا بدست می آورند؟ اما برای افغان ها پنهان نمانده است که تمام این پول ها از منابع خارجی بدست کاندیدان می رسد. بلی، نه تنها سفارت امریکا بلکه چندین سفارت های دیگر غربی و آسیای به کاندیدان پول می دهند و یا به آلفاظ آسانتر کاندیدان را می خرند. هدف امریکا و کشورهای که بر کاندیدان ریاست جمهوری و یا پارلمانی افغانستان سرمایه گذاری می کنند برای همگان هویدا است.

شاید انگشت شمار سیاستمدارانی باشد که در ۱۷ سال اخیر به نوعی از انواع در رژیم دست نشانده کرزی و غنی بر کرسی ای متمکن نبوده باشند. بلی، همگان از سیاست استعماری و غلام پروری امریکا و غرب به اشکال گوناگون

بهره گرفتند، تعلیمات و مقدسات اسلام و مصالح منافع ملی را لگدمال نموده، دوشادوش اشغالگران برای تطبیق پالیسی های اسلام ستیز و افغان ستیز آنان از دل و جان کوشیدند. بناءً افغان ها از سیاستمدارانی که می خواهند با شعارهای نمایشی در انتخابات احتمالی سهم بگیرند هرگز امیدی ندارند.

کاندیدان انتخابات احتمالی نیز جز شعارهای زهرآلود و نفرت انگیز دیگر حرف و گفتنی برای مردم ندارند. سیاست های قومی، نژادی و سمتی این کاندیدان، هماهنگی و همبستگی ملی افغان ها را به شدت متضرر ساخته است. پیکر جامعهء افغانی از سیاست مغرضانه و خصمانهء ایشان رنج می برد. ایشان بجای اینکه دردهای کشور و ملت را مداوا بکنند، بر زخمهای مردم نمک می پاشند. از همینست افغان ها بجای اینکه از پروسهء انتخابات استقبال بکنند و علاقه مندی نشان بدهند، بر انتخابات نفرین می فرستند و بیزاری نشان می دهند.

اگرچه سران رژیم و کمیسیون انتخابات ادعا دارند که بیش از ۸ ملیون نفر برای رای دهی در انتخابات احتمالی ثبت نام کرده اند، اما تقریباً همه نهادهای ناظر و احزاب سیاسی که در انتخابات سهم می گیرند اتفاق دارند که حد اقل ۵ ملیون نام ها خیالی و تقلبی است. واقعیت اینست که شمار ثبت نام کنندگان واقعی شاید ۲ ملیون هم نباشد، زیرا در جریان روند ثبت نام نه تنها نهادهای ناظر، رسانه های داخلی و خارجی و احزاب سیاسی، بلکه سران و مقامات رژیم نیز بر ناکامی و کندی این روند به صراحت اعتراف داشتند و بی توجهی مردم به روند ثبت نام سرخط خبرها بود.

قابل ذکر است که طالبان مخالفت خود را با پروسهء انتخابات جعلی و تقلبی رژیم کابل به جدیت و صراحت ابراز داشته اند و مردم را به عدم مشارکت درین پروسهء امریکایی توصیه کرده اند. با توجه به اینکه طالبان اکنون بیش از ۷۰ در صد کشور را در کنترول دارند، امریکایی ها و رژیم کابل با سوال دیگری نیز مواجه هستند. بلی، آیا انتخاباتی که در کمتر از نصف کشور صورت می گیرد می تواند ممثل آرای همه مردم کشور باشد ؟

اما پاسخ این سوال مهم نیست، زیرا اگر (فرضاً) انتخابات در همه نقاط کشور برگزار شود و دو ملیون نه، بلکه ده ملیون افغان ها رای بدهند، باز هم برندهٔ انتخابات از سوی کاخ سفید و پنتاگون اعلام می گردد و هدف از برگزاری انتخابات چنانکه در فوق ذکر شد تنها فریب دادن جامعهء جهانی و داغ نگهداشتن آتش خشونت های قومی، سمتی و نژادی می باشد و بس.

واضح است که هیچ امیدی برای بهتری وضعیت سیاسی، نظامی و اقتصادی رژیم کابل وجود ندارد، این رژیم با گذشت هر روز به فروپاشی و نابودی نزدیک تر می شود.

برادر مجاهدم، سرباز رسانه ای باش!

برادر مجاهدم ! اگر نگاهی گذرا به اطراف مان بیندازیم، با قدرت های غول رسانه ای، شبکه های کلان ماهواره ای و فضای بیکران مجازی رو به رو می شویم که در دست دشمن، و مطابق با اشاره‌ی کفار به پخش و نشر ـ عقاید فاسد و مبارزه با عقاید اصیل اسلامی مشغول هستند. دشمن، با صرف هزینه های گزاف، و سرمایه‌های کلان در بخش رسانه، به جهاد و عقیده‌ی مسلمان‌ها لطمه می‌زند و اگر نیک بنگریم متوجه می‌شویم که دشمن، متأسفانه تا حدی به این اهداف شوم خود رسیده است. دلیل بر مدعای مان این است که عوام به جای خود، افرادی را مشاهده می‌کنیم که منتسب به علم و علما هستند، منابر رسمی در اختیارشان است و جبّه و عمامه های بزرگی بر تن و سر دارند، ولی در اثر تبلیغات و سمپاشی های مداومِ دشمن، اشغال کشور توسط دشمن را توجیه می‌کنند و حکومت دست نشانده را قانونی می پندارند ولی جهادِ مجاهدین و مبارزهٔ موحدین را بی اساس و نامشروع جلوه می دهند.!

اگر از این طیف افراد سؤال کنیم که «دلیل شما برای اثبات این سخنان تان چیست؟ بر اساس چه مدرکی مبارزات مجاهدین را نامشروع، و جهاد اصیل را نبرد داخلی می پندارید؟» در پاسخ مشاهده می‌کنید که به شبکه های ماهواره‌ای، کانال‌های فعال در فضای مجازی و روزنامه استناد می کنند!! در پاسخ به این طایفه باید به قول الله متعال متوسل بشویم که می فرماید: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنْ جَاءَكُمْ فَاسِقٌ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوا أَنْ تُصِيبُوا قَوْمًا بِجَهَالَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَادِمِينَ} ای مؤمنان! اگر فاسقی برای شما خبری آورد، خوب تحقیق کنید تا مبادا از روی نادانی به قومی آسیب برسانید، آنگاه از کارتان پشیمان شوید.

و پیامبر خدا صلی الله علیه وسلم می فرماید: «کفی بالمرء کذباً أن یحدث بکل ما سمع» برای اثبات دروغ گوییِ فرد همین کافی است که هر آنچه را بشنود بیان کند. (صحیح

مسلم : ۶) . شاید بتوان گفت که نود فی صد از گردانندگان این رسانه‌ها بویی از اسلام نبرده اند و اسلام از آن ها بری و بیزار است و آن هایی هم که خود را مسلمان می‌دانند غرق در معاصی و گناه اند و بدون تردید «فاسق» شمرده می شوند. الله متعال دستور داده است که هرگاه خبری را از فرد فاسقی شنیدید، بدون تحقیق میدانی آن را نپذیرید. پس آیا می توانیم اخباری را بپذیریم که کفار برای ما ارسال می کنند؟ آیا می توان آیی را پذیرا باشیم که از طرف کفار برای شستشوی مغزِ ما ارسال شده است؟! قضاوت با شماست.

برادر مجاهدم! حال که دشمن وارد میدان رسانه ای شده است، بر ماست که وارد همین کانال بشویم و با همان سلاحی که دشمن به نبرد ما آمده است، دشمن را زمین گیر کنیم. کار رسانه ای را کم اهمیت نپنداریم. تصویری که یک مجاهدِ رسانه ای از میدان جنگ می گیرد، یا کلیپی که از صحنه ی نبرد گرفته می‌شود، بسا اوقات تاثیر بیشتری از هزاران جلد کتاب دارد.

لازم به ذکر است که اهمیت رسانه، از فرآورده‌های عصر حاضر نیست، بلکه جهاد رسانه ای و نبرد إعلامی از بدو ظهور اسلام جریان داشته است و حق و باطل، همواره در این میدان، علیه یکدیگر جبهه گرفته اند. در عصر پیامبر خدا صلی الله علیه وسلم «سرودن شعر» بزرگترین سنگر رسانه ای محسوب می شده است و پیامبر خدا صلی الله علیه وسلم از این سنگر علیه دشمنان کمال استفاده را برده است.

دکتر علی صلابی می نویسد: «اساس رسانه در عصر نبوی صلی الله علیه وسلم، سرودن شعر بوده است. در جنگ بدر، مشرکان در میدان شعر، در موقف دفاعی قرار داشتند. اما در میدان احد، مشرکان تلاش کردند که این پیروزی خود را بزرگ جلوه دهد و از کاه، کوه بسازند. اما در مقابلِ جنگ روانی دشمن، حسان بن ثابت، کعب بن مالک و عبدالله بن رواحه . رضی الله عنهم . قیام نمودند. در جبهه‌ی دشمن افرادی مانند هبیرة بن أبي وهب، عبد الله الزَّبَعْرَی، ضرار بن الخطاب و عمرو بن العاص قرار داشتند. اما قصیده‌های شعریِ حسان بن ثابت، همانند بمب روحیه دشمن را تخریب می کرد.» [السیرة النبویة ۲۱۶/۳]

پیامبر خدا صلی الله علیه وسلم در دفاع از عبدالله بن رواحه . رضی الله عنه. فرمودند: «فوالّذی نفسي بیده لَكلامه أشدّ علیهم من وقع النّبل.» [سنن نسائی) ۲۷٤٤([قسم به ذاتی که جانم در دست اوست، تأثیر سخنان عبدالله بن رواحه بر دشمن، سخت تر از برخورد تیر با آن هاست«.

همچنین به حضرت حسان بن ثابت . رضی الله عنه . فرمود: «أهج المشركین فإن جبریل معك.» [صحیح بخاری)۳۸۱٤([مشرکین را هجو کن و عیوب شان را برملا ساز؛ زیرا که جبرئیل با توست.)

با اهمیتی که پیامبر خدا صلی الله علیه وسلم به نبرد رسانه ای قایل بود، توانست دشمن را زمین گیر و دچار شکست روحی و روانی نماید.

برادر مجاهدم! ممکن است از یک فرد جاهل و یا ساده لوح بشنوی که بگوید: «تصویر برداری از معرکه نبرد، و پخش نشرات جهادی، ریا و تظاهر به شمار می‌آیند و پیامبر صلی الله علیه وسلم ریا را شرک نامیده است، پس کار شما از نگاه شریعت ناجایز است«!.

در پاسخ به این شبهه ی پوچ باید گفت: الله متعال به مؤمنان دستور داده است که با دشمن جهاد کنند، و در گام بعدی، دیگران را نیز به جهاد تشویق نمایند. و بدیهی است که تشویق دیگران به میدان جهاد، جهاد محسوب می‌شود. الله متعال می‌فرماید: {فَقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفْسَكَ وَحَرِّضِ الْمُؤْمِنِينَ} (النساء:٨٤) (پس در راه خدا بجنگ. تو جز بر نفس خود مکلّف نیستی و مؤمنان را به جنگ تشویق کن.)

و نبی کریم صلی الله علیه وسلم می فرماید: «جاهدوا المشركين بأموالكم وأنفسكم وألسنتكم.» [رواه أحمد والنسائي وأبوداود] (به وسیله سرمایه، جان و زبان تان با دشمن جهاد کنید.)

پس دانسته شد که فیلم برداری از صحنه جنگ و تصویر برداری از میدان نبرد، نه ریا، بلکه جزئی از جهاد و تشویق دیگران به این میدان شمرده می شود.

برادر مجاهدم! اگر استودیوی تلویزیون در اختیار نداری، و نمی توانی در شبکه های ماهواره ای ظاهر شوی و پیام اسلام و منهج مجاهدین را به گوش مردم برسانی، پس نباید این امر، انگیزه ات را متزلزل نماید؛ چون میادین دیگری وجود دارد که می توانی از طریق آنها دعوت اسلام و عقیده ی جهاد را به سمع و گوش مردم برسانی. می توانی از طریق اینترنت و فضای مجازی، و با استفاده از تقریر، تصویر و تحریر به جهاد رسانه ای بپردازی، اما قبل از شروع کار، باید امور ذیل را نصب العین خویش قرار دهی:

۱. تلاش برای ترسیخ عقیده ی توحید در قلوب و اذهان مسلمانان. باید تمام جوانب و اقسام توحید؛ مانند توحید در عبادت، الوهیت، حاکمیت، قانون و... برای مردم واضح و عیان گردند.

عموم مردم گمان می کنند که شرک به خدا، منحصر در سجده برای غیرالله است، ولی به بزرگ ترین انحرافات سیاسی وقعی نمی نهند. موالات با کفار را بسیار ناچیز می پندارند؛ در حالی که الله متعال می‌فرماید: {وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الظَّالِمُونَ}. (و هر کس از شما که با آنان موالات و مودت داشته باشد، ظالم محسوب می شود.) حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما در توضیح آیه می‌فرماید: «هو مشرك مثلهم.» (چنین شخصی همانند مشرکان است.) [تفسير القرطبي ٩٤/٨]

مسلمانان جنگیدن زیر پرچم های صلیبی را جرم نمی پندارند؛ در حالی که مسئله ی بسیار و مهم و حیاتی ای به حساب می‌آید. مولانا حسین‌احمد مدنی رحمه‌الله می‌فرماید: «اگر صلیبی ها اعلام کنند که جنگ ما ضدّ مسلمانان، جنگی صلیبی است، و با وجود این، یکی از مسلمانان زیر پرچم شان بجنگد، از دین تهی می گردد.» [اسیران مالتا، ص/١٦٣]

برادر مجاهدم! می طلبد که به وسیله دوربین و ضبط صوت، دروس عقیدتی و تربیتیِ علمای معتبر را به سمع و بصر مسلمانان برسانی؛ زیرا اینها مسائلی هستند که عوام به جای خود، علما نیز از آن ها آگاهی ندارند.

۲ـ مبارزه با دشمن در میدان «جنگ اصطلاحات». همان گونه که دشمن با بمب های خوشه‌ای و قاره‌پیما به جنگ مجاهدین آمده است، به همین صورت، رسانه های دشمن تلاش می‌کنند تا اصطلاحات و محاورات را نیز وارونه و برعکس جلوه دهند. بر اثر همین حیله و ترفند دشمن است که بسیاری از فرهنگیان و روشن فکران!! جهاد را ارهاب، ترور، دهشت افکنی، خروج بر حکّام و... می‌نامند؛ بی حرمتی به ساحت مقدس پیامبر اعظم صلی الله علیه وسلم را آزادی فکر و اندیشه می خوانند. زنا، ربا، نوشیدن شراب و بی بند و باری را آزادی فردی می انگارند و...

برادر مجاهدم! باید برای مسلمانان روشن نمایی که جهاد، ترور و وحشت افکنی نیست، بلکه بلندای قلّه اسلام است، هیچ عملی با آن برابری نمی کند، و هر کس جهاد نکند و در دل اراده ی جهاد داشته نباشد و بمیرد، بر شعبه ای از نفاق مرده است، و خروج بر حکّام فاسد و کافر، که با یهود و نصاری موالات دارند، نه این که ممنوع است، بلکه واجبی شرعی و وظیفه ای اسلامی است.

۳. تصویر برداری و فیلم برداری از صحنه های نبرد لشکر اسلام با لشکر شیطان، و نشر این فیلم ها در فضای مجازی، تا مسلمانان از حجم شکست دشمن، و میزان پیشروی مجاهدان اطلاع داشته باشند. دل های مؤمنان خنک شود، قلب های کافران به سبب بغض بترکد و جوانان امت، با مشاهده ی این فیلم ها تشویق شده، و به سوی میدان نبرد سرازیر شوند.

برادر مجاهدم! مبادا در حین شعله ور شدن آتش نبرد، حماسی شوی و دوربین را به گوشه ای پرت کنی و با تفنگ خود سینه های دشمن را نشانه بگیری؛ زیرا عکسی ـ که از میدان نبرد می گیری، یا فیلمی که از صحنه جنگ می گیری، از تیر تفنگ نیز تأثیر شدیدتری بر قلب دشمن می گذارد. راست گفته اند که: «مجاهدِ رسانه ای، استشهادی ای است که جاکیت ندارد».

در پایان، برادر مجاهدم! اول خود و سپس تو را به تقوا، اخلاص، استقامت، و تلاش برای نشرِ اخبار درست و واقعی توصیه می کنم. برحذر باش از این که قولی را به مجاهدان نسبت بدهی که آن را نگفته اند، یا عملی را به مجاهدان منسوب سازی که آن را انجام نداده اند. باید نشرِ اخبار درست و واقعی، آرم مجاهدان باشد. به امید آن که سربازان رسانه ای، شبکه های غول دشمن را به زانو درآورند. (والله غالبٌ علی أمره ولکن أکثر الناس لا یعلمون) .

جهادي "متحولين"

■ شاهد (غزنيوال)

جنسي متحولين (transgender) يا په بله اصطلاح جنسي تصحيح د غربي نړۍ يوبل افت دی چې د بشريت خلقي اساسات تهديدوي.

جنسي متحولين طبيعتا غيرملائم اشخاص وي چې د ذکوريت او انوثيت له مزاياوو څخه په عادي ډول نه وي برخمن ؛ بلکې د جراحي عملياتو (surgery) په وسيله ځان ته د خپلې خوښې جنسيت (gender) تاکي.

يعنی هغوی په خلقي (پيدايشي) لحاظ نارينه پيداشوي خو د ښځينه وو خاصيتونه او طبيعت ورکې بارزوي او ياهم ذاتا ښځينه پيدا شوي وي مګر د نارينه وو خاصيت ورباندې غالب وي.

دغه ډول اشخاصو ته په معاصرې طبي اصطلاح کې جنسي متحولين ويل کيږي، په دې معنی چې هغوی خپل لومړنی اصلي جنسيت د جراحي عملياتو په وسيله ثنايي جنسيت ته اړولي وي.

يعني هغوی اصلا نارينه وي چې ځان يې ښځه کړی او ياهم ښځينه وي چې ځان يې نارينه کړی وي.

د امريکا متحده ايالات د نړۍ په کچه هغه هيواد دی چې تر ټول هرځای ورکې ډير جنسي متحولين شته دي.

يواځې په نيويارک ښار کې د هغوی شمير(۲۷۲۴۹۳) تنو ته رسيږي.

دغه نا مطلوبه مقدمه مې د يوشمير هغو پخوانيو جهادي رهبرانو تر پروپې ناستې را يادې شوه چې د چين سفارت په يوه هوسانه ميلمستيا کې تشريف درلود.

په افغانستان غوندې مذهبي ټولنه کې تر اوسه پورې د غرب په څير فزيکي جنسي متحولين نه ليدل کيږي خو د امريکايي اشغال له برکته د جنسي متحولينو په ځای دلته فکري "متحولين" ډير پيداشوي چې ظاهري څيرې يې د جهادي او مذهبي اشخاصو او عملي کړنې يې د ټولو اخلاقي ارزښتونو خلاف وي.

د دغو فکري متحولينو ښکاره مثال همدغه پخواني جهادي رهبران دي چې د امريکايي اشغال تر سيوري لاندې يې خپل ټول پخواني جهادي تمايلات او فکري خاصيتونه د غرب پالنې په مفکوره اړولي دي.

هو همدغو کسانو ته د جهادي "متحولينو" نوم ورکول بلکل پرځای او مناسب انتخاب دی ؛ ځکه دوي اوس له خپلو ټولو دينې ، فکري او جهادي تمايلاتو څخه هغو افکارو ته تحول کړی چې هغه د امريکايي اشغال اخلاقي، فرهنګي او فکري منفی اثرات دي.

د بيلګې په توګه ښاغلی حکمتيار چې د شوروي اشغالګرو په خلاف د ستر مجاهد ، شعوري مبارز او فکري شخصيت په حيث پيژندل کيده نن يې د امريکايي اشغالګرو په مقابل کې هماغه ټول مثبت انفعالات په منفي تمايلاتو بدل او پرون چې يې د

شورویانو په ضد څومره تشدد کاوه له بده مرغه چې نن د امریکایانو په دفاع کې تر هغه ډیر متشدد دی.

نن به هیڅ داسې غونډه پیدا نشي چې حکمتیار دي ورکې ګډون کړی وی او د امریکایي اشغالګرو خلاف جهادي مقاومت دي نامشروع نه وي بللی.

همداسې د جهاد بل پخوانی جهادي رهبر استاد عبدالرسول (سیاف) چې د شوروي اشغال په خلاف به یې په هره غونډه کې پر پخوانی باچا د کفر ټاپې لګولې ، نن په ډیره خواخوږي له امریکایي جنرال نیکولسن سره محرمانه مجلسونه کوي او هغه ته د مجاهدینو د څپلو مشوري او فتواوي ورکوي.

همدا شان ښاغلی مجددي چې پرون یې د شوروی اشغال په خلاف د ملي ژغورنې په نوم د جهادي ګوند مشري کوله نن د ده تر عباء او قباء لاندې امریکایي سفیر امنیتي ټرون لاسلیکوي ...

همداسې ښاغلي خلیلي، ښاغلی محقق او نور بلاوي بتري...

د شوروي اشغال په مهال پخواني جهادي رهبران په ټیره د هغوي په منځ کې دری تونډ لاري هغه یې (حکمتیار، سیاف رباني) هغه څوک وو چې د نورو جهادي رهبرانو په نسبت له زیاتو امریکایي مرستو برخمن وو.

همدا دری تنه تونډ لاري ښاغلي وو چې د افغانستان د لانجې د هواري لپاره یې هره طرحه له کُفر سره مساوي بلله.

همدوي وو چې سیاسي حل یې سیاسي چل ، بیطرفه حکومت یې بیشرفه حکومت او د یوه موقت حکومت په جوړولو کې یې پخوانی باچا په څلور مذهبه کافر باله.

مګر د امریکایانو په اوسني اشغال کې یې دومره تحول وکړ چې استاذ عبدالرسول سیاف ښکاره صلیبي محاربینو ته د خپل مجاهد ولس د څپلو مشوري ورکوي، حکمتیارد خلیل زاد مداخې کوي ډاکټر عبدالله د فقید استاد رباني په استازیتوب د جان مکین په مړینې د خواشینی مرثیې غږوي.

دغه جهادي "متحولین"چې د سړې جګړې په مهال د امریکایي پوځي، سیاسي، او لوجیستیکي مرستو په مټ د افغانستان په سیاسي صحنه کې مطرح شول ، له افغانستان څخه د شوروي لښکرو تر وتلو وروسته د تروخت تیرو (Expired) مضره درملو په توګه د خپل ولس او هیواد په خلاف ثابت شول.

د واک د تصاحب لپاره یې خپل منځي جګړه پیل او د افغان مسلمان ولس د جهاد افتخارات یې ټول ورکې تر پښو لاندې کړل.

پر هغه سربیره افغانستان ته د امریکایانو د راتګ په مهال ټول په یوه غږ د هغوی ترځنګ ودریدل او له خپلو پخوانیو جهادي، دعوتي او فکري تمایلاتو په تخلي (لاس اخیستو) سره یې دومره تحول وکړ چې پخوا یې کوم امتیازات له امریکایانو څخه د کمونیزم ټکولو په نوم اخیستل نن عین هماغه امتیازات د جهاد او مجاهد خپلو په نوم اخلي.

لهذا دغو کسانو ته باید نور د جهادي سیاست په قاموس کې نوي مصطلحات او مفاهیم وکارول شي ، هغوی نور باید د جهادي رهبرانو په ځای د جهادي "متحولینو" او یاهم فکري مخنټینو په نوم یاد کړل شي ؛ ځکه د دوئ اوسنۍ کړنې نه له جهادي تمایلاتو سره اړخ لګوي او نه هم له مذهبي افکارو سره مطابقت .

په ټرامپ نړۍ و خندیده !!

خبیر احمدم

دروان کال دسپتامبر په ۲۵ نیټه دملګروملتونو په ۷۳ سرمشریزه ناسته کې دامریکا ولسمشر (ډونالد ټرامپ) په خپلې ویناکې دعوه وکړه چې دنومورې په راتګ امریکاډیره تکیه شوي اوپه ډیروبرخوکې یې دپام وړبریالیتوبونه ترلاسه کړي !!!!

دټرامپ یا دتوري دسرمشریزي ګډوانوالو ته حیرانونکي او سپیره درواغ ښکاره شول نو خکه ټولو په یو غږ په ټرامپ وخندل او دغه پسخندډوله خندا دومره په زور شوه چې ټرامپ یې له خبرو ودراوه.

سرمشریزي والوټرامپ ته په ډاګه کړه چې دهغه په راتګ امریکامنزوي او تجریدشوي او هیڅ داسي بریااولاسته راوړنه یې نده لرلي چې دلته پرې ټرامپ سخوند ووهي .

ټاکل شوي وه چې سږني ناستې ته به دبرازیل دولسمشر له وینا ورسته ټرامپ دوهم وینااوال وي ولې دهغه دخندې له امله دسرمشریزي اداري هیئت څولحظي هم دټرامپ راتګ ته انتظارونه ویست سمدواره یې دخبرونو بت داکوادور ولسمشر ته ورکړ ټرامپ په داسې حال کې مجلس ته راغی چې دخبرو نوبت یې بل چا نیولی وو ؛ دغه حالت هم دټرامپ غرور مات اوپیښې چلند یې دځان لپاره سپکاوی وباله

دملګروملتونوپه سږني ناسته کې دنړۍ دړومبی کچې دمشرانواواستاځوله لوري دامریکا دولسمشر ټرامپ په خبروتمسخر اوسپکاوي ته سیاسي څیړونکو اومهمو رسنیو بیلابیل غبرګونونه اودریځونه ښودلي

د(پولتیکو) په نامه یوه خبري امریکایی اژانس لیکلي : ټرامپ هڅه کوله چې په سرمشریزه کې له هغه سرتمبه سیاست اوتګلاري څخه چې

ټرامپ په پوځي اواقتصادي ډګرونوکې دیولړهیوادونوپه خلاف پیاده کړي کلکه دفاع وکړي اوپه مشخص ډول خپل رقیبان ترګوزار او اغیزلاندي راولي چې کوم ګامونه یې دهغوئ په خلاف اخیستي هغه پرځای اودامریکاپه ګټه وواوممکن نورهم واخلي

دپولټیکوپه خبره دټرامپ په وړاندې دسرمشریز والو تمسخر اوګډي خندا وښودله چې ټرامپ په نړۍ کې ځومره منزوي اودرټل کیدوتردرشله رسیدلی ، د اژانس په ویناوا یواخي دټرامپ ځنډل او په هغه ریشخند وهل نه و، بلکې داله لویه سره دټولې امریکاکنځل اوپه مخ ځپیړه ورکول وو

نیویارک ټایمز په خپلې تبصرې کې په غټوتورولیکلي : ۷۳ سرمشریزې دامریکایکتازي اوهیبت وننګاوه

ټایمز زیاته کړي : ټرامپ دخپلې انتخاباتي مبارزې په مهال دامریکادهغه مهال ولسمشربارک اوباما ته په خطاب کې ویلي وو چې امریکاخپل رعب او دبدبه له لاسه ورکړي او د خندا او وړ ګرځیدلي، دهغه په وینا امریکاداسې یو ولسمشرته اړتیا لري چې څوک یې په خبرو اوکړو نودخندا او تمسخر جرئت ونشي- کړای اوداپه هغه صورت کې ممکنه ده چې خپله دی (ټرامپ) دامریکادواک په ګدی کینې

نیویارک ټایمزوایی لدې وړاندې داسې مثال څوک نشي- راوړلای چې په امریکادې په دومره مهم اونړیوال مجلس کې خنداوتمسخرشوي وي ؛ ولې دټرامپ په راتګ په ربښتیاهم چې نړیوالو دامریکاپه ولسمشر- ښه په کړس کړس وخندل اوامریکایان یې خجله کړل

«آسوشیتد پریس» بیا دټرامپ داخبره نوره هم خندنی اوشرمونکي بللي چې کله نوموړي دهیوادونو دمشرانو ترډلیزي خندا اوسپکاوي لاندي راغی نوده یوې تیرایستونکي خند او ډراماتیکو حرکاتو په ترڅ کې یې هڅه وکړه چې ځان له دومره لوی خجالت ځخه په ځنګ اووځندې نو وي وئیل چې (ماله تاسي ګډونوالو ځخه ددغه ډول جدي غبرګون تمه اوانتظار نه درلود ؛ خومشکل نشته)

اژانس لیکي دټرامپ داجمله چې (مشکل نشته) دابیاترټولوسپکونکي اوبې معنا وه ځکه دادیوه جدي مشکل دشتون نتیجه وه چې دنړۍ مشران یې دټرامپ په مقابل کې ودرول اویوتاریخی درس یې ورکړ اودهغه غوږونوته یې دا خبره ورسوله چې امریکا نوره هغه امریکا نده چې ځوک یې له پوځي اوسیاسي اخطارونو اوبدماشیو وو یر یرې اویایې اقتصادي کلابندیواوحصارونوته وار پار خطاکړي

هو؛ که ربښتیاهم مشکل اوستونزه نه واي نوپه کوم دلیل دنړۍ مهم استاځي ټول دیپلوماتیک نورمونه ترپښو لاندي کوي په دومره حساس اومهم مجلس کې دامریکا یومستبد ولسمشردامریکاپه خاوره کې ترګوزار لاندي راولي اوپه هماهنګ ډول یې نه داچي خبري قطع کوي بلکې ورباندي دمرګانیو خنداګانو غیشي هم واروي .

هاګ ته د امریکا ګوابنونه

او د نړۍ مجرمانه چوپتیا

حسن مومند

بې له شکه چې پدې مادي نړۍ کې امریکا لویه ده،جغرافیا یې لویه ده؛زراعت یې لوی دی،صنعت یې لوی دی،تجارت یې لوی دی،اقتصاد یې لوی دی او له هرڅه مهم دا چې پرمختللې ټیکنالوژي او عصري عسکري ځواک یې ترټولو لوي دی.

امریکا دخپل دې لویوالي نه په ټبرې کابو یوې پېړۍ کې او په ځانګړ ډول ددوهم نړیوال جنګ درامنځته کېدو او پای ته رسیدو نه پس بنه ډېره ناوړه ګټه پورته کړه ؛ګام په ګام یې نړۍ دخپلو پربکړو تابع او خپله رایه پرې مسلطه کړه،دخپلو ګټو لپاره یې دنړۍ ډېره لویه برخه بدامنه،دجنګونو په مرکز او دملیونونو انسانانو په مقتل بدله کړه او په عمل کې یې تل بنه په بې شرمۍ او بدماشۍ له هغو ټولونړیوالو اصولو او قوانینو ځان فوق وګانه کوم یې چې پخپله وضع کړي وو.

دمحترمو لوستوالو په علم کې به وي چې دجنګي جرمونو لپاره د هالیندپه هاګ بنارکې دهاګ په نوم په نړۍ کې دجنګي جرمونواوجنګي مجرمینوپه اړه دځپړنواوپربکړولپاره جوړی شوې نړیوالې محکمې په افغانستان کې د امریکا دیرغل په نتیجه کې د بې ګناه وژل شویو افغانانو په اړه دځپړنې اراده بنکاره کړې وه چې له املې یې دا اداره دامریکا دسخت غبرګون سره مخامخ شوه او امریکا دې اداري ته سخت ګوابنونه وکړل .

امریکا دبې شرمۍ سپین سترګۍ او بدماشۍ له ټولو پولو واوړېده او په ډېرو سختو ټکو یې نوموړې اداره وګواښله.

امنیتي چارو کې دامریکا دولسمشر ټرمپ مشاور جان بولټن وویل : که دهاګ له لورې په افغانستان کې دجنګي جرمونو تحقیقات پیل شول نو دا به لویه بې انصافي وګڼل شي؛ددې محکمې سره به نه یواځې دا چې امریکا خپل پربکون اعلان کړي بلکې جاري ټولې مرستې به وربانديې بندې کړي.

بولټن وویل چې دهاګ نړیوال محاکم دا حق نه لري چې په افغانستان کې دامریکا د ۱۷ کلن

جنګ دجنګي جرمونو په اړه څېړنې او تفتیش وکړي؛که هاګ دخپلو حدودو نه تجاوز وکړ نو دامریکا دولت به دهاګ قاضیانو او ددې اداري سره امریکایي مرسته کونکو ته سخته سزا ورکړي؛دهاګ کوم قاضیان چې په افغانستان کې زموږ د ۱۷ کلن جنګ په اړه دجنګي جرمونو دوسې څېړي،اوري یې او پدې اړه پربکړې کوي موږ به دا قاضیان او ددوئ مرستندویان ونیسو؛امریکا کې به یې زندانیان کړو او سزاګانې به ورکړو.

بولټن دهاګ نړیوالې محکمې دامریکا ، اسرائیلو او دامریکا دنورو مهمو اتحادیانو لپاره ستر خطر ګڼلی .

دهاګ نړیوالې محکمې دامریکا او دامریکا دمهمو غربي اتحادیانو،دکابل اداري؛دشمالي ټلوالې ، رشیددوستم او داشغالګرو پرضد دجنګېدونکو مجاهدینو په اړه دجنګي جرمونو دخېړنو او دوسیو خلاصولو اراده ښکاره کړیده چې په مقابل کې یې هیڅا داسې غبرګون ندې ښکاره کړی لکه امریکا چې ښکاره کړ.

امریکا داسرائیلو سره پدې قضیه کې هم لکه دتل په څېر له حده زیات اخلاص ښکاره کړ او بولټن وویل چې که دهاګ محکمې کوم امریکایي یا اسرائیلي په نښه کړ زموږ دولت به دهاګ قاضیان او په تحقیقاتو کې شامل تنان ونه ښیي؛ موږ به دوئ ونیسو؛سزا به ورکړواوټولې مالي مرستې به یې بندې کړو.

بولټن په امریکا کې یوې غونډې ته دوینا پرمهال د هاګ نړیوالې محکمې ته ګواښونه پرځای کار وګڼه او زیاته یې کړه چې دهاګ نړیوالې محکمې له لورې دامریکا دولت ته په وړاندې شوې یوې عریضې کې غوښتنه شوې وه چې امریکا دمسلحو قواو او جاسوسو شبکو له لورې دجنګي جرمونو په اړه دې دامریکا دولت دې محکمې ته معلومات ورکړي او په ځانګړې ډول د ګونتنامو زندان کې دبندیانو سره دتشدد او په نتیجه کې یې دمړو شویو تنانو په اړه تفصیلي معلومات غوښتي ۹۹.

دامریکا دولت پدې اړه دمعلوماتو ورکولو نه انکار کړی و او دا نړیواله محکمه یې له دې کار نه منع کړې وه خو دې نړیوالې محکمې ویلي وو چې په افغانستان کې دامریکایې فوځیانو او جاسوسو شبکو له لورې دترسره شوو جنګي جرمونو باره کې به په کوم مناسب وخت کې څېړنې وکړي.

نو امریکا ددې تحقیقاتو دمخنیوي په موخه دې نړیوال عدالت ته ګواښونه کړیدي.

خو دبولټن ددې ګواښونو په مقابل کې دهاګ له لورې هیڅ غبرګون ندی رامخې ته شوی ؛ بس ایله همدومره یې ویلي دي چې دنړی ۱۲۳ هېوادونه دهاګ حامیان دي او د ملګرو ملتونو دامنیت شورۍ هم په ګڼو مواردو کې دجنګي جرمونو د ناپیلو څېړنو لپاره زموږ محاکم ټاکلي دي او پرې یې اعتماد کړیدی.

هو !دبشر- دحقوقو نړیوالو ټولنو هاګ ته دامریکا دا ګواښونه په سختو ټکو غندلې دي او ویلې یې دي چې دامریکا دا ګواښونه دهغو ټولو خلکو سخت توهین دی چې کوم دروان جنګ په جریان کې دجنګي جرمونو ښکار شویدي.

دهیومن رایټس واچ په نوم دبشر- دحقوقو یوې لوړ پوړې مشرې لزایونس ویلي دي چې دامریکا له لورې دا ګواښونه په جنګ کې داغېزمنو شویو وګړو دبې عزتۍ په معنی ده ؛ په افغانستان،شام او برما کې دبشردحقوقو نه دلوی سرغړاوي او جنګي جرمونو ته په پام سره دهاګ په څېر دنړیوالې محکمې اړتیا نوره هم زیاتېږي.

دنړۍ په ګڼو اخبارونو؛جریدو کې او دشخصي- روابطو په رسنیو کې دامریکا دا ګواښونه په سختو ټکو غندل شوي او دا دامریکا دبدماشۍ او دنړیوالو قوانینو نه دسرغړاوي ډېر لوي دلیل بلل شویدی.

خو متأسفانه چې دملګرو ملتونو ادارې؛ دنړۍ د لویو دولتونو او سیاسي مشرانو له لورې دامریکا ددې ګواښونو په مقابل کې هیڅ غبرګون رامخې ته نه شو او نه دامریکا دا بربنډه بدماشي او سپین سترګي چا وغندله.

ټولې نړۍ ته معلومه ده چې امریکا ځان دبشر دحقوقو دساتنې اتله بولي او دبشر- دحقوقو نه ددفاع په نوم له ځان سره خپل غربي اتحادیان یوځای کوي او په هېوادونو یرغلونه کوي ، نظامونه ړنګوي ښارونه او آباد کلي په کنډوالو بدلوي او په ملیونو انسانان وژني دا هرڅه دامریکا بشر- پالنه ګڼل کېږي او دملګرو ملتونو په شمول په نړۍ کې داسې هیڅوک نه وي چې ورنه دا وپوښتي چې دبشر دحقوقو نه ددفاع او ستا په وینا انسانانو ته دمتوقع خطر دمخنیوي لپاره کلي او ښارونه په کنډوالو بدلول او په سونو زره بې ګناه انسانان وژل دبشر-یت ساتنه ده که دبشر-یت سره ستره دښمني ؟

دامریکا دنېږدي اتحادي هېواد هالینډ په هاګ ښار کې دجنګي جرمونو دمرتکبینو لپاره جوړې شوې محکمې کې مسلمانان نه بلکې دامریکا د اتحادي اشغالګرو هېوادونو سره تړاو لرونکي دامریکایانو دمذهب او مشرب پیروان پکې ناست دي نو څرګنده ده چې دوئ به دامریکا سره بې انصافي نه کوي نو امریکا ولې ددوئ دتحقیقاتوته اجازه نه ورکوي او ولې نه پرېږدي چې حقایق راڅرګند کړي؟

که امریکا رښتیا هم په افغانستان کې جنګي جرمونه نه وي کړي او دګونتنامو،بګرام او دعراق په بوکا او ابوغریب زندانونو کې یې د زندانیانو سره دوحشت نه ډک سلوک نه وي کړی نو ولې دهاګ محکمې دتحقیقاتو نه ویرېږي؟

دهاګ محکمې چې دنړۍ دډېرو ستر عسکري مشرانو او دهېوادونو دحاکمانو په هکله څېړنې کړي او مجرمان یې ثابت کړیدي نو چې دامریکا په اند یې هغه ټولې څېړنې او پرېکړې سمې او دمنلو وړ وې اوس چې پرافغانانو دامریکا

دظلمونو او وحشتونو په اړه دځېرنو خبره کوي امریکا ورسره ولې مخالفت ښکاره کوي؟ او ولې یې پرځای کار نه بولي؟

امریکا ولې ځان دنړیوالو قوانینو نه فوق ګڼي په کوم دلیل وایې چې دا محکمه په افغانستان کې دامریکا د ۱۷ کلن جنګ په اړه دځېرنو حق نه لري؟

آیا افغانان انسانان ندي؟ که کوم داسې قانون په نړۍ کې شتون لري چې افغانان یې له انسانیت ویستلي او ددوئ وینه یې هدر کړي وي؟

دامریکا غربي اتحادیان که ربشتیا هم دبشر حقوقو او نړیوالو قوانینو ته ژمن وي نو لاهم دبشر دحقوقو ددومره لوي ناقض تر قوماندې لاندې په هغه هېواد کې ولې جنګېږي کوم کې یې چې په ډېره لویه پیمانه دبشر حقوق ترپښو لاندې کړي او لوي وحشت یې رامنځته کړی؟

اتحادي دولتونه خو به ځکه دامریکا پدې بدماشۍ چپه خو له وی چې پدې وحشت کې ورسره شریک دي؛پوښتنه دا ده چې دامریکا او نور لویدیځ ولسونو ولې چوپتیا خپله کړیده؟

آیا دا فکر به اوس هم سم وي چې ګیني غربي ولسونه دخپلو دولتونو په وحشتونو راضي ندي؟که نه وي راضي نو ولې دخپلو دولتونو دوحشتونوسره مخالفت نه ښکاره کوي او پرضد یې نه راپورته کېږي؟ بې له شکه چې دنړۍ داچوپتیا ډېره مجرمانه چوپتیا ده .

مجرم ته مجرم ویل او جرمونه یې خلکو ته راښکاره کول هم ښه خبره ده خو اصل کار دمجرم دجرم مخنیوی دی؛په ګونتنامو،بګرام،ابوغریب او نورو زندانو کې دزندانیانو پرضد دامریکا یې فوځیانو دوحشت نه نړۍ لا ډېر دمخه خبره شوې او تصویرونه یې خپاره شویدي ؛ دافغانانوپه کلواوښارونوبمبار او په توروشپوکې دتالاشیوپه نوم په کورونو وراوړېدل اوله دې لارو دافغانانو قتل عام اوسپکاوی له هماغه پیل نه شروع وو نو دهاګ محکمه باید هماغه وخت به حرکت کې راغلی وای ترڅو دوحشت مخنیوی شوی وای ؛ ۱۷ کلونه خوډېره اوږده زمانه ده ؛ دا محکمه پدې دومره اوږدې زمانې کې چرته وه ؟ په پوره ۱۷ کلونوکې ورته داستر ظلمونه اووحشتونه ولې نه ښکاربدل ؟ اوس چې امریکا په افغانستان کې شکست خوړلی دی.

او دځان لپاره د تېښتې لارې لټوي نو دداسې خبرو رامنځته کېدل له ځان سره ډېر سوالونه راپورته کوي.

بلک واټر ته

د جګړې سپارلو بد مرغه طرحه !

دامریکا دیوه خصوصي امنیتي شرکت مشر ډګرمن [ایریک پرنسن] دیوې مودې راهیسې- ددې لپاره هڅې ګړندۍ کړې چې سپینه مانۍ په افغانستان کې دروان جنګ خصوصي او قراردادي شرکتونوته وسپاري

هغه وایي دامریکا خلک اوږوځ له یوې اوږدې جګړې څخه ستړي شوي دي اودده دطرحې سره سم قراردادیان کولی شي دامریکایي عسکرو ځای ونیسي! دافغانستان طلوع تلویزون سره په مرکه کې دبلک واټر مشر ایریک پرنسن دخپلې طرحې نه په دفاع کولو سره وویل که طرحه یې دسپینې مانۍ لخوا ومنل شوه نو په شپږو میاشتو کې به دافغانستان جنګ پای ته ورسي

دبلک واټر په نوم داخصوصي امنیتي شرکت په ۱۹۹۷زکال کې دډګرمن ایریک پرنسن او څونورو متاقعدو پوځي جنرالانو لخوا رامنځته شو چې پکې په لوی شمیر دامریکا دپوځ متاقعد چارواکي او دسي ای اې جاسوسان وندې او ګډون لري .

پر هغوی علاوه دنړۍ په هغو هیوادو کې چې بلک واټر ته چارې سپارل کږې دهغه هیواد دننه بدماشان، لوچکان او لنډغر قسم خلک له ځان سره

ملګري کوي او په مختلفوبرخو کې يې دکار لپاره استعمالوي

افغانستان ته بلک واټر دامريکا ديرغل په دوهم کال سرتنويست او سي اې اې تري په مختلفو عملياتو او جنګونو کې کار اخيسته داوبامه په دوره کې ورسره د۲۵۰مليونه ډالرو په بيه يو قرارد لاسليک شو چې دامريکا دبهرنيو چارو وزارت او سي اې اې په ګډ چوکاټ کې دامريکا دپروګرامونو او مرکزونو دامنيت ټينګوي

ويل کېږي اوس هم بلک واټر په افغانستان په زرګونو بهرني غړي لري هغوی دامريکا دبهرنيو چارو وزارت او سي اې اې ترڅارنې لاندې وحشيانه عمليات پرمخ وړي

په ۲۰۱۰ زکال کې دامريکا دبهرنيو چارو وزارت غوښتل په افغانستان کې دپوليسو او سرحدي څواکونو دروزنې لپاره دبلک واټر سره قرارد اد وکړي دا هغه وخت و چې دافغان دولت دپوليسو او سرحدي څواکونو دروزنې چارې تردې وړاندې د دبلک واټرد ۲۰۰۰ بهرنيوغړولخوا پرمخ وړل کېدې

داچې بلک واټرپه نړۍ کې دبدشهرت لرلو په وجه افغانستان کې يې فعاليتونه پټ روان کړل ښکاره ده امريکا هغو هيوادو ته چې پکې بلک واټر فعاليتونه کوي حق نه ورکوي چې هغه دي دامريکا جنګي مجرمين محکمې ته راکاږي او دهغوی دجنګي جرمونو پلټنې دي وکړي

دبشري حقوقو نړيوالې ټولنې پخپل وروستي راپور کې دافغانستان او امريکا دمتحده ايالتونو له حکومتونو غوښتنه کړې چې ددغسي- طرحو مخنيوی وکړي څو دملکي خلکوحقوق ترپښو لاندې نشي- اوهم دافغانستان لړزانده اقتصادي حالت دنورو ګوابنونو او خطرونو سره مواجه شي

ښکاره ده بلک واټر ډلې دعراق په فلوجه ښارکې دګڼو جرمونو دترسره کولو له املې وېر بد شهرت لري او هلته يې د سړيووژونکي ماشين په نامه شهرت لري دامريکا دبهرنيو چارو اوسي اې اې لخوا بلک واټر ددي لپاره کارول کېږي چې دملیشائي څواکونو په رامنځته کولو کې رول ولوبوي

دبلک واټرد مشر- (ايريک پرنس) په وړاندېزدامريکا ۹۰ جنګي الوتکې او ۵۵۰۰سرتيري افغانستان کې امريکا بري ته نيږدي کوي اوبل دجګړې په قراردادي کولو سره به دجګړې په لګښتونو کې ۳۰مليارد ډالر کموالی شي دکتونکو په اند: شايد دترمپ لپاره ديو سوداګر په حيث دبلک واټر طرحه دپام وړوګڼل شي خو دامريکا دفاع وزير (ميتس)او دامنيت مشاور(مک مستر) او يوشمير نور چارواکي

دبلـک واټـر دطرحـې سره مخالفـت لـري هغـوی اوهغـوی يـې منـل دامريکـا دپـوځ پـه شکسـت تعبيروي او دامريکا په وړاندې يې دګوابنونو څخه ډکه طرحه ګڼي

بلک واټر چې په نړۍ کې دخپـل بـد شـهرت په وجـه خپـل نـوم اوس پـه [زيسروسـيز] بانـدې اړولـــی اوس هـــم دافغانســـتان پـــه ځينـــو مهموولايتونـو(کنـدهار، کابـل او ننګرهـار) کـې مرکزونه لري خو تراوسه نده معلومه چې بلک واټر په افغانستان کې څه کـوي او کـوم اهـداف پـرمخ وړي؟ درسنيو په قول: بلک واټر دامريکا دپخوانی ولسمشر بوش لخوا ددې لپاره هم پرېښانه ډالر ورکول کيدل څو په نړۍ کې دافراطي عيسويت دخورولـو لپـاره کار کړي اوس چې په افغانسـتان کـې دجنـګ پـه خصـوصي ګرځولـو سره دبلـک واټرطرحـه رسـنيزه شوې بريښـې چـې امريکـا دجګـړې پـه ډګـر کـې دخپلو ټاکاميو غچ دخپلسرو مليشـو پـه رامنځتـه کولو سره واخلي چې دشک پرته دابه مظلوم افغان ولس په يوبل لوی ناورين باندې واړوي او د لـوی شمير انسانانو وينې به وبهوي خو پوهيږو چې پـه دې سره به هم امريکا بری ترلاسه نکړي او نـه بـه يې دټاکاميوحسرت پای ومومي.

بلک واټر لـومړی وار پـه رسـنيو کـې هغـه مهال شهرت ترلاسه کړ چې کلـه يـې دعـراق پـه فلوجه ښارکې په ځلورو عسکرو دنا معلوم برید په غچ کې دعراق څو تنه عسکر دالفُرات رود دپله په سرراوخړول او هم يې په ياد ښار کـې عـام ملکـي خلک بيدريغه ووژل

بلـک واټرتـه دامريکـا دپخـواني ولسمشر بوش لخوا ددې لپاره هم پرېښانه ډالر ورکول کيدل څو په نړۍ کې دافراطي عيسويت دخورولـو لپـاره کار کړي اوس چې په افغانسـتان کـې دجنـګ پـه خصـوصي ګرځولـو سره دبلـک واټرطرحـه رسـنيزه شوې بريښـې چـې امريکـا دجګـړې پـه ډګـر کـې دخپلو ټاکاميو غچ دخپلسرو مليشـو پـه رامنځتـه کولو سره واخلي چې دشک پرته دابه مظلوم افغان ولس په يوبل لوی ناورين باندې واړوي او د لـوی شمير انسانانو وينې به وبهوي خو پوهيږو چې پـه دې سره به هم امريکا بری ترلاسه نکړي او نـه بـه يې دټاکاميوحسرت پای ومومي.

د غازي شهيد محبوب الله فاروق

ژوند پانه او شهکاري

م سعد کتوازی

زمونږ د هېواد تاریخ له مودو را هېسي له شهکاریو ډک دی، د همدې شهکاریو او اتلولیو په مټ دلته نړیوالې امپراطوری را نسکورې او درې وړې شوې دي او همدغه شهکاری د اسلام او مسلمانانو د بریا او برم تر لاسه کولو رښتونی تعبیر دی.

له همدې امله نړیوال کفر زمونږ د هېواد یواخې په پښتنه اتیاسلنه خاوره د یو بېلګه ایز اسلامي حکومت او امارت چې لاهم د کورنۍ شر او فساد سره په خونړی جګړه بوخت و واکمنې ونشوه زغملای، د هغه په وړاندې یې یو نړیوال کفري ائتلاف چې د اسلام په تاریخ کې د احزاب له جګړې وروسته دوهم ستر ائتلاف بلل کېږي رامنځته کړ.

د ولس له غېږې ورپسې را پورته شویو شهکارانو د پرلپسې دول دول اتلولیو په مټ یاد ائتلاف د اسلام او مسلمانانو په ګټه تغیر کړ، اوس چې د هغه لخوا د اسلامي حکومت او امارت په له منځه وړلو ۱۸ کاله اوږې پایله یې نوره هم د کفري ملتونو له زغمه په وتو شوه، هغه اندېښنې چې له د وولسږو راسې یې درلودې نوري هم مخ په وده شوې، اسلامي امارت د اتلس کاله وړاندې څو برابره لوړ خواك، غښتلتیا، انسجام او هر اړخیزو ابتکارونو پرلور وړ وګرځېد.

شهکاري هغه یاد و چې د معاصري نظامي، سیاسي او فکري جګړې په میدان کې پرې له تمې پورته له یوې هېښونکې لارې مو سیال لوری را پرځولی، د صلیبي یر غل په وړاندې وسلوالو شهکاریو څخه یو کسیزې او دله ایزې سرښندنې (استشهادیاني)، کمینونه، نفوذي غلچکي او چریك غوندې رسابریدونه د یادونې وړ دی، لاندې څو کرښې د یو نفوذي مجاهد په ژوند او شهکاری کاږم.

زوکړه: شهید محبوب الله فاروق رحمه الله د امین الله زوی، د عبدالصمد لمسی او د سیمې د جید دیني عالم مولوي هدایت الله صاحب حفظه الله وراره په۱۳۵۸ هجري شمسي کال د پکتیکا ولایت وازیخوا ولسوالی د خضرخیلو کلي په یوه دین دوسته، جهاد پرورہ او غریبه کورنۍ کې زېږېدلی و، لومړنۍ زدکړې یې د کلي له ملاامام څخه ترلاسه کړې، خو دا چې دوی یواخې دوه ورونه و، د لطف الله په نوم مشر ورور یې په پخواني جهاد کې شهید شو پلار یې هم اوږده ناروغي درلوده فاروق رحمه الله کورنیو بوختیاو او اقتصادي ستونزو منخنیو او لوړو زدکړو او همدا راز جهادي فعالیتونو ته پرېنښود.

جهاد: وازیخواه چې د پکتیکا له لېرې پرتو ولسوالیو څخه ده د هېواد د اشغال په څلورم کال چې لاهم شهید فاروق رحمه الله خپل شخصي ژوند درلود

بهرنيو اشغالګرو په ولسوالۍ کې بيس جوړ کړ او هلته يې واړول، ورسره سم په۲۰۰۴ زېږديز کال شهيد فاروق رحمه الله د خپل ديني او ملي احساس له مخې له خوښيودك شخصي ژوند ته شا او د يو نفوذي مجاهد په توګه يې د پوليس دنده پيل کړه.

دا چې بهرنيان د هېواد له نقشې، د غيور او مجاهد ولس له مزاج او احساس سره بلد نه و، يواخې د هغو له سادګۍ ډك تاريخ يې سرسري پېژاند او ناوړه ګټه يې تري اخېسته، له بل لوري شوني ده د هېواد په سطحه تر دې مهاله د کورنيو مزدورو له ليکو په دوی لاس نه و پورته شوی نو خکه يې د داسي ورځې تمه هم نه درلوده د کومې چې شهيد فاروق رحمه الله انتظار کاو.

که څه هم بهرنيو عسکرو او عادي مشرانو يې له کورنيو مزدورو سره کومه پوله نه لرله خو شهيد فاروق رحمه الله د مجاهدينو له لوري د ورکړل شوي رول له مخې په دوی کې د لوړ پوړ بهرني په لټه کې و، د څه د پاسه يونيم کال اوږدې مودې دروند انتظار د پوليس کېدو ستړي موخې ته و رساوه، د ۲۰۰۶زېږديز کال.....مياشت کې يې د يرغلګرو له خواه د هېواد جنوب زون نظامي مشر(په کپتن يادېده) له يو ژباړن سره په رسا برېد کې په نښه کړ، خای پرخای يې و وژل، او د دوی دوه ساتونکې يې مرګونې ټپيان کړل، له همدې امله تر دېره برېده شونې ده په ټول هېواد کې لومړی نفوذي مجاهد شهيد فاروق رحمه الله او دغه لومړی نفوذي برېد و.

سېمه ايز غښتلی مجاهد، د فاروق رحمه الله کلېوال او همسنګره طالب العلم محبوب الله صادق وايي امريکايي کپتن د ولسوالی په يوه اطاق کې له کورنيو ګودا ګيانو سره او غونډه درلوده ترڅو هغوی د مجاهدينو په وړاندې د ولسي خلکو را پارولو ته و هڅوي، له شپې بخته د غونډې د اطاق د دروازې ساتنه شهيد فاروق رحمه الله او يو بل عسکرته سپارل شوې وه، لومړی نوبت هم د هغه بل عسکر و خو فاروق رحمه الله تر په څه بهانه د هغه نوبت واخېست، د ياد عسکر له قانع کولو شپېه وروسته ور پسې د باندې راغی ترڅو هغه او له برېد وروسته د وتلو لاره و څاري.

له دې ترلاسه کولو سره سم يې د اطاق له دروازې په امريکايي کپتن مخامخ برېد ترسره کړ هغه او ژباړن يې وژل شول او دوو ساتونکو يې ژور ټپونه و خوړل، غازي فاروق رحمه الله لومړی ولسوالی ته څېرمه بازار پوري خان ورساو، او بيا د نيوفورم بدلولو او له يو دوکاندار څخه د هغه د موټرسائکل په ترلاسه کولو په خوندې توګه د مرجانې کلي له لارې مجاهدينو ته ورسيد.

له دې شهکاري وروسته غازي شهيد محبوب الله فاروق رحمه الله د شهادت تر ورځې د سيمې د مخکښ، وتلي او غښتلي مجاهد محترم ملا عبد الباسط آغا صيب حفظه الله تر قومانده لاندې د فرد په حيث جهادي دنده په مخ يوړه، د وازيخواه ولسوالۍ مربوط شاوزه، مهمان کلا، ګواشتې، مرجانې او ګنو نورو سېمو کې يې فعاليت وکړ، د يو غښتلي، مدبر او زړور مجاهد په توګه يې په زړه پوري چاري تر سره کړې.

شخصيت او خاطري: شهيد فاروق رحمه الله يو داسي زړور ، د ستړي حوصلې، ښې وړتيا، اوسپنيز

هـود او لـوړو اخلاقـو څښـتن، مخلـص، مينـه پـال خـوږمن خـوان و چـې د خلکـو پـه زړونـو کـې يـې خانګړی خای درلود او د ملګرو تمرکـز يـې خانتـه را خپل کړی و، له علماو، طالبانو او مجاهدينو سره يې زياته مينه او هغو ته يې پـه لـوړ کيفيـت احـترام درلود، د مشرانو يې مثالي اطاعت کاو.

ياد اتلوال بريـد د مشرانو لـه لـوري د ور کـړل شوي رول سره سم او د ميـاشتو له انتظار وروسته تـر سره کـول د اسـلامي امـارت اهـدافو او د مشرانو لارښوونو ته په لوړه کچه د هغه ﷺوفاداري، تعهد او ژمنتيا په ډاګه کوي او داهم تـرې جـوتېږي چـې هغه د يادې شهکارې لپاره وړ شخص و.

د هغه نږدې ملګری محمد شعيب بدر وايي مـا له شهيد فاروق ﷺسره څلور کاله تېـر کـړل، هغـه ته چې محترم اغاصيب کوم موترسـانکل د جهـادي چارو لپاره ورکړی و څه زوړ و، هغه به ويل دا به نـه وايو چې ولي مي نوی موتر سانکل نشته خکه په دې سره د امېـر لـه اطاعتـه سر غـراوی راخـي او نيـت خرابېږي، هغه به ماته هم ويل جهـاد پـه ښـه نيـت کوه، له اړتيا پرته يې خبرې نه کولې، زيـاتر بـه پـه مجلس کې پته خوله ناسـت و، چـې ورتـه خبـر بـه شوې د هغـه شـوندې بـه د خـدای پـاک ﷻ پـه ذکـر خوخېدلې، د ژمې په موسم کې به يې د او لاد د نفقې لپاره په ګاونډې هېواد کې مزدوري کوله.

شـعيب او محبـوب اللـه صـادق دواړه وايـي: شهيد فاروق ﷺد عمليـاتو پـه پـلان کـې بيخـې جدي و، د برید په وخت يې د شـاته تـګ، وېـرې او وار خطايې په نوم څه نه پېژندل، هروخت به يې په لوړه روحيه ورته پوره تابيا لرله او څوک ترې نشوای وړاندې کېدلای، په خپل ژونـد هېڅـا کـوم بـد نـه و ترې لېدلي، له ملګرو او عامو ولسي وګړو سره يې يـو ژړه راکښونکی تعامل دلود او له همدې املـه هـر چـا ته ګران او د سترګو تور و.

شهادت يې: غـازي شـهيد فـاروق ﷺاو د محراب خان ﷺپه نوم يو ملګري يـې هغـه مهـال چـې لـه ګواشـتې سـيمې د کـور پـه لـور روان و د زانکخېلـو پـه کـلي کـې د/۱۴۳۲/سـپوږمېز کـال د صفرالمظفر/٦م چې د /۲۰۱۱/ زېږديز کـال د جنـوري له/۱۵/مـې نېټـې سره برابـره ده د هفتـې پـه ورځ د کورنيو مزدورو عسکرو په کمين واوښتل، له څه خند کلك مقاومت او دښمن ته له دروند خاني زيان اړولو وروسته د خدای ج د لاري دغه نه سـتړي کېـدونکی شهکار مجاهـد، د نفـوذي بريـدونو د بنسـټ ډبـره، د مورکی د خوښـيو د ژونـد يـواځېنی سرمايـه غـازي محبـوب اللـه فـاروق ﷺلـه خپـل ملګـري سره د شهادت جام په سر واړا و (انا لله و انا اليه راجعون).

شهيد فاروق ﷺ شاته مور جانـه (چـې اوس هغه هم پـه دې نـړۍ نشـته)، تـور سړي او څلـور او لادونه پرېښودل، هـوا غـازي شـهيد فـاروق ﷺلـه لسګونه زره کيلومتره لېرې او لاندې خمکـې څخـه د اشغال په موخه راغلی امريکـايې او د هغـه ژبـارن و وژل، د يـو سـتر غـازي پـه توګـه پـه سرو سـترګو ګرځيد، په ژړه پوري جهادي ژوند يې وکړ او په پای کې خدای پاک ﷻ د شهادت پـه لـوړ مقـام و نـازاوه، روح دې يې ښاد او ياد دې يې تل ژوندی وي.

۱۸ کاله وروسته

دخلیلزاد سوله ایز ماموریت!!

(د الاماره ویب پاڼې څخه په مننه)

دراپورونـو لـه مخـي دامریکـا دبهرنیـو چاروزیر (مایک پمپو) په رسمي ډول افغانی الاصـــله امریکـــایی (خلمـــی خلیلـــزاد) دافغانسـتان لپـاره دنومـوړي هیـواد دبهرنیـو چارو وزارت دخاص استاځي په ډول معـرفي کـړي او کلکـه تمـه یـې څرګنـده کـړي چـې دخلیلزاد په توسط بـه امریکایـان وکړای شي ترڅـو لـه طالبـانوسره یـوې ډاډمنـي سـولې او روغې ته ورسیږي.

مایـک پمپئـو په هغـه لیـک کـې چـې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت مـامورینو تـه یـې استولی هیله ښوولې چې خلیلزاد د هغـه په اند دافغانسـتان اوامریکـا پـه اړه اوړده تجربـه لـري اوبـه وکـولای شي چـې لـه طالبـانوسره دامریکالـه لـوري ممکنـه مـذاکرات اودسـولې بهیر تر ډیره بریده ښه رهبري اومنتج بریدته ورسوي.

دامریکـا د بهرنیـو چـارو د وزیـر لـه لوري او بیا په دغه کچه څرګنـدوني لـه کـوم شک اوتردد پرته داحقیقت پـه اثبـات رسـوي چې امریکایانوپه پوځي میـدان کـې لـه اټکـل اوتوقع څخه زیـات شکسـت اوزیانونـه لیـدلي

لدې وراخوا یوه لویشت هم دکوم پرمختګ اولاسته راوړني امیداوچانس نه ویني اوپه دې خبره یې سرخلاص شوی چې که یوه ورځ

هم دافغانستان جګړې ته دوام ورکوي دامریکا اقتصادي اوپوځي بیړی به دغرقیدواوتباهی لورته سوقوي اوپه ډول ډول ناورینونوبه یې اخته کوي.

نوځکه اوس امریکایان چمتوشوي چې داتل طالب په وړاندې له خپلو ټولو مخکینیو دریځونو او موقفونو شاګرځ غوره کړي او د اومني چې دجګړې لار حماقت، اشتباه او تباهي ده اودامریکا دا دریځ چې طالبان دي دکابل رژیم سره مذاکرات اوخبري وکړي داهم یوه بې نتیجي اوبې مانا اصرار وو ، دنجات اوسمون لار داده چې خپله امریکا له طالب سره مخامخ خبري وکړي

دچارور دکتونکوله نظره دخلیلزاد غاړي ته دامریکایي دیپلوماسی سپارل جوتوي چې امریکایان په هره بیه چې وي تصمیم نیولی ترڅو ځان دافغانستان له غرکاوي اوګړوبیدونکي انجام څخه وژغوري ؛ نوپه صراحت ویلای شوچې افغان مجاهدولس هغه جګړه او معرکه دمتعال رب په نصرت ګټلي چې مغروري اوافغان دښمنه امریکا ۱۸ کاله وړاندې پر افغانانو وتپله او فکریې کاوه چې دخپلې عصري اوجنګي تکنالوجی په زور او د ډالروپه باران به یې وګټي.

دا چې نن ځلمی خلیلزاد تیاریږي چې له طالبانوسره دامریکا شخړه او مقابله دخبرو اترو او تفاهم له لاري حل اوفصل کړي او یوسولییز حل رامنځته کړي دغه افغانی الاصله امریکایي ته به څومره دکمال او ویاړخبره وه چې ۱۸ کاله وړاندې خپلو بادارانو ته مشوره ورکړي وای چې پام دافغانستان دهضمولو او دائیمي اشغال سوچ ونکړی افغانستان ته به ورشی زرګونه مظلوم افغانان به شهیدان او له تیغه تیرکړی اووبه یې ربړوي؛ خوبری اوکامیابي موتش یوخیال اوجنون ده.!!!

دسالم فطرت نه دبغاوت نتايج

رسول الله صلى الله عليه وسلم دى چې" كل مولود يولد على الفطرة ، فابواه يهودانه او ينصرانه او يمجسانه"

هر كوچني د(سالم)فطرت او طبيعت سره نړۍ ته سترګې غړوي خو بيا يې مور او پلار يهودي يا نصراني كوي او يا ترې مجوسي جوړوي.

يانې دسالم فطرت سره خو هر يو كوچنى نړۍ ته سترګې غړوي خو په سالم فطرت ټول نه پاتې كېږي؛مسلمان مور او پلار چې خپل كوچني ته پاملرنه وكړي او دين وروښايي نو كوچنى په سالم فطرت پاتې شي خو چې مور پلار يهوديان،نصرانيان ، مجوسيان يا دبل كوم باطل مذهب منونكي وي نو خپل بچي هم په خپل مذهب راواړوي او هماغه كوچنى چې دسالم فطرت سره يې نړۍ ته سترګې غړولې وې ديهوديت نصرانيت او مجوسيت له امله د سالم فطرت نه لرې شي.

لنډه دا چې ديهوديت او نصرانيت سره دفطرت نه باغي كېدل لازم دي چې په لويديځ نړۍ كې ديهوديانو اومسيحيانو په ژوند كې دفطرت دټولو اصولونه بغاوت داسې عيان دى چې له بدوپايلويې اوس ټول لويديځ سر ټكوي نوبيان ته يې حاجت نشته. دبرتانې په كوچنيانو كې راپيداشوى يونوى تمايل دفطرت نه دبغاوت يوه نوې راپيداشوې داسې پايله ده چې ټول دولت يې اندېښمن كړيدى خو نه پوهېږي چې څه وكړي ؟

هو ! دبرتانې په رسنيو كې په خپروشويوراپورونوكې راغلي دي چې په برتانيه كې ګڼ شمېر كوچنيان په خپل طبعي حالت خوښ ندي او غواړي چې جنس يې بدل شي.

۴۵ كلونو نه تر ۱۵ كلونو عمر لرونكي ډېر داسې هلكان شته چې په خپل هلكتوب ندي خوښ اود جراحي عملياتو له لارې ځانونه انجونې يا مخنث كول غواړي او ډېرې انجونې داسې شته چې دجراحي عملياتو له لارې خپل ځانونه هلكان او يا نرښځې جوړول غواړي.

برتانوي او نړيوال شنونكي ددې لوي لامل په برتانوي كوچنيانو كې دروانې مرضونو ډېروالى اواعصابي خلل بولي اودروانې مرض اواعصابي خلل عوامل بيا په جنسي روابطوكې دلويانوبې احتياطي يانې په ټولنې كې دفحشا خپرېدا؛ د مينډواوپلرونوله لورې دنشه يې موادوزيات كارول او دكوچنيانونه دمور اوپلارلر يوالى ګڼي.

مشهورې برتانوى جريدې انكشاف كړى چې دبرتانې په زرونو كوچنيان غواړي چې ددواګانو او

جراحي عملياتو له لارې يې جنس بدل شي؛ هلکان انجونې او انجونې هلکان شي.

په زړه پورې خولا دا ده چې پدې زرونو کوچنيانو کې ۵۰ سلنه کوچنيان داسې دي چې ځانونه نر يا ښځه نه بلکې نرښځي جوړول غواړي

دبرتانې دروغتيا وزارت اعتراف کړی چې دا يو تباه کونکی حالت دی چې ترې دراوتلو لپاره په دولتي سطحه دلوي پلان اړتيا ده.

دروغتيا وزارت لوړپوړي چارواکې وايې چې هره اوونۍ يواځې په لندن کې روغتونونو ته ۴۰ کوچنيان دجنس بدلولو په اراده مراجعه کوي چې دمعاينې لپاره اړونده ځانګې ته لېږل کېږي.

ډيلی ايکسپريس نومې مشهورې برتانوۍ ورځپاڼې ليکلي چې دروغتيا وزارت يو لوړپوړي چارواکې دا حالت ډېر خطرناک بللی او ددې پړه يې پرټولنيزو رسنيو وراچولې ده.

خو دټولنيزو چارو پوهان وايې چې په برتانوي ټولنې کې بې لاريتوب؛له واده پرده دکم عمره جنکو اولادونه پيدا کېدل؛په ميندو او پلرونو کې دشرابو او نورو نشه ای موادو زيات استعمال او دکوچنيانو ترمخه دښځو او سړو دجنسي اړيکو ټينګول په برتانې کې دداسې نسل دراپيدا کېدو سبب شويدی چې ډي اين ای کې يې ستونزې وي؛دداسې کوچنيانو عمرونه چې لس يا يوولسو کلونو ته رسېږي دوئ دجنسي خبرو نه نه يواځې دا چې خبر وي بلکې په خپل منځ کې دجنسي اړيکو جوړولو اقدامات هم کوي.

او ورو، ورو پکې دخپل جنس بدلولو لورته ميلان زياتېږي چې دا ډېر خطرناک حالت دی.

دوئ وايې چې ډېره دتشويش وړ خبره دا هم ده چې په دوئ کې ۵۰ سلنه کوچنيان داسې دي چې دځان نه ښځه يا نر نه بلکې ځان مخنث يانې نرښځی جوړول غواړي ترڅو له دواړو ډلو وشمېرل شي او ددواړو قسمونو سره يې ناسته ولاړه وي.

د ((امريکن کالج فارپيډياټريشن))مشر ډاکټر مشيل ويلي دي چې په خپل هلکتوب يا جليتوب بې اطميناني يو رواني تکليف دی؛دداسې ناروغۍ ښکار کوچنيانو دپوهولو لپاره ډېرې هڅې پکار دي ترڅو په خپل فطري حالت پاتې کېدلو ته چمتو شي؛ځکه چې د دوا او عملياتو له لارې دکوچنيانو جنس بدلول دکوچنيانو داستيصال اوبېخکنۍ معنی لري چې سمدستي يې مخنيوی پکار دی.

دلندن ، مانچسټر اوسکاټ لينډ ډاکټرانو منلې ده چې دجنس بدلولو لپاره دزرونو کوچنيانو دوسې په کلنيکونو او روغتونونو کې ترغور لاندې دي او رسنيو ته ددولت له لورې ورکړل شوې او خپرې شمېرې دحقيقي شمېرو نه ډېرې کمې دي.

ډيلی ايکسپريس نومې جريدې ليکلي دي چې دبرتانې د روغتيا وزارت له لورې په تازه تر سره شويو څېړنو کې معلومه شويده چې کومو

کوچنیانو چې د جنس دتبدیلۍ لپاره عریضې ورکړې وې کله چې طبي ډلې ددوئ رواني او اعصابي معاینه وکړه لوي اعصابي او رواني خلل پکې وموندل شو چې لوي لامل يې دشرابو، سیګرټو او نورو نشه يې موادو کارول او دمور او پلار بې توجهي وه .

ډاکټرانو منلې ده چې داسې کوچنیانو ته نصیحت کولو ګټه نده رسولې او نه دوئ دخپلې ارادې نه اوړېدلي دي خو مور دوئ او ددوئ والدینو ته ویلي دي چې کومه انجلۍ جنس بدل هم کړي پلار نه شي جوړېدای او که کوم هلک جنس بدل کړي نو مور نه شي جوړېدای او نه بچي زېږولی شي؛دجنس په تبدیلۍ یواځې فطري استعداد ختمېږي او بس خو سره ددې ټولو انتباهاتو او وېرولو کوچنیانو کې څوک له خپلې غوښتنې وا نه اوړېدل او په خپلې پرېکړې ټول کلک ولاړ وو.

ډیلۍ ایکسپریس لیکي چې په برتانوي کوچنیانو کې په ټېرو ۷ کلونو کې دجنس دتبدیلۍ غوښتنه کې ۴ زره فیصده زیاتوالی راغلی دی چې دا دبرتانوي دولت او ټولنې لپاره ډېر زیات تشویش وړ خبره ده. دولت حیران دی چې ولې دبرتانې په زرونو کوچنیان د خپل جنس نه ېېزاره دي؟

ډیلۍ ټیلیګراف نومې مشهورې جریدې لیکلي دي چې په ۲۰۰۹ م کال کې یواځې ۱۴۰ انجونو دجنس دتبدیلۍ لپاره عریضې وړاندې کړې وي چې د روغتیا وزارت ورته دمعاینا تو نه پس دجنس بدلولو اجازه ورکړې وه؛په ۲۰۱۷ م کې داشمېر ۱۸۰۶ ته لوړ شو او په روان ۲۰۱۸ م کال کې يې شمېر له ۴ زرو نه هم واوړېدلو.

دبرتانې کوچنیانوکې دجنس دتبدیلۍ رجحان په خورا حیرانونکې ډول مخ په لوړېدا دی ؛که ژر يې مخه ونه نیول شي برتانوي ټولنه به دلویې بربادۍ سره مخامخ شي.

ډېر دشکر مقام دی چې مسلمانان یو؛سره له دې چې مور پدې مادي نړۍ کې ډېرو روسته پاتې ګڼل کېږو ؛ رښتیا هم وروسته پاتې یو او

ډېرې کمزورياني به هم لرو خو داسلام په برکت مو ټولنيز ژوند تر ډېره حده دفطرت اصولو او غوښتنو سره برابر دی چې په برکت يې موږ په خپل ژوند کې خوشاله يو؛په خپل حالت رضا يو او دخپل جنس په اړه ښه مطمئن يو.

په اکثر ومسلمانانو کې دمشرانو احترام؛په کشرانو شفقت؛دخپلوکوچنيانو دسالمې روزنې فکر؛دنادارو سره مرسته؛ دګاونډيانو حقوق؛ دمظلوم مدد؛په خپلو لاسونو دخپلو مريضانو خدمت ؛ دخپلو بوډاګانو قدر؛ دخپلوليو پالنه؛دکونډو او يتيمانو سره همدردي؛دخور،مور او لور مقام؛ دټولو مېرمنو احترام؛دحلالو او حرامو؛روا او نا رتميز؛ستر،پرده او حيا او داسې نور ګڼ صفات شته چې نامسلمان وګړي ترې بې برخې دي .

دوئ هر څه دوضعې قوانينو تابع کړي او داسماني لارښونو سره يې دښمني راخستې ده نو ځکه دسخت افراط او تفريط ښکار کېږي.

يوه انجلۍ که په ۱۲ کلنۍ کې بالغه شي نو دلويديځ قانون (چې اوس يې پر اسلامي نړۍ هم نافذول غواړي)دا دی چې دا انجلۍ به دخپل بلوغ نه ٦کلونه پس چې يوه ورځ کم ۱۸ کلنه وي قانوناً به دواده حق نه لري اونه به دځان لپاره دمناسب مېړه د انتخاب حق لري؛دا اختيار به ايله هغه وخت ورکول کېږي چې عمر يې ۱۸پوره کلونه شي خو بل لورته بيا د۱۰ او ۱۱ کلونو کوچنيانو ته دومره ازادي او پدې کم عمر کې ددومره لويې پرېکړې حق ورکول کېږي چې په نتيجه کې يې دهغه د ذکورت يا انوثت صفت له منځه ځي او جنس يې بدلېږي اوله امله يې داسې ستر ناورين رامنځته کېږي چې غونډ دولت او ولس يې په حل نه پوهېږي او پدې اړه دخپلې عاجزۍ اعتراف کوي.

دادفطري اسماني لارښوونو نه دبغاوت نتيجه ده چې لويديځه ټولنه يې دسختې تباهۍ سره مخامخ کړيده ؛ لويديځ چې په اسلامي هېوادونوکې دخپل کلتور دخپرولولپاره ډېرې زياتې هڅې کوي؛ پدې لارکې ډېر زيات مصارف کوي اوپراسلامي هېوادونومسلطو لاسپوڅو مشرانو او رسنيوته ښه ډېرې پيسې ورکوي نوهدف يې همدا دی چې اسلامي ټولنه (خدای مکړه)دهماغې بربادۍ سره مخامخ شي دکومې سره چې غربي ټولنه مخامخ شويده .

نوپه ټولواسلامي هېوادونواوکې عموماً اوزمو هېوادچې دامريکا په مشرۍ کې دلويديځ له لورې اشغال شويدی اودلته دلويديځ دکلتورخپرولولپاره ډېرې تېزې هڅې روانې دي پکې خصوصاً ددې خبرې ډېره زياته اړتيا ده چې هر مسلمان دعمل په اراده داسلامي لارښونونه ځان خبراو په ټولنې کې يې داحيا او اشاعت هڅې وکړي؛ اسلامي دعوت خپله فريضه وګڼي او د اشغالګرو دناکاره ارادو نه دخلکودخبرولوهڅې وکړي ترڅوخدايې مسئوليت ادا او په ټولنې کې مو ددې فساد ريښې مضبوطې نه شي.

د اسلام غزوات او سرايا

دموته غزا

...په تير پسې

ابوظهير

موته ديوخای نوم دی، دشام په بلقاء نوم سيمه کې واقع دی، کله چې رسول الله ﷺ دپاچايانو او سلاطينو په نامه داسلامي دعوت ليکونه واستول، شرحبيل بن عمرو غساني په نوم يې هم يو ليک وليږه، شرحبيل دقيصر لخوا دشام والي و، حارث بن عمير رضي الله عنه چې کله هغه ته درسول الله ﷺ مبارک ليک ورساوه، شرحبيل شهيد کړ، دغچ اخستو لپاره رسول الله ﷺ دهجرت په ۸کال جمادی الاولی مياشت کې درې زره کسيز لښکرموته په لور واستاوه (فتح الباري ۷توک ۳۹۲مخ)

رسول الله ﷺزيدبن حارثه رضي الله عنه دلښکر امير مقرر کړ ويې فرمايل:

که زيد قتل شو، جعفربن طيار رضي الله عنه به دلښکر امير وي که جعفر هم قتل شو په خای دي عبد الله بن ابی رواحه رضي الله عنه دلښکر امير شي او که عبد الله هم قتل شو بيا مسلمانانوته پکارده چې خانوته يوتن امير وتاکي(رواه البخاري واحمد النسائي باسنادصحيح)

په دې وجه موته غزا ته [غزوة جيش الامراء] هم ويل کېږي، ځنګه چې په مسند احمد نسائي کې په صحيح اسناد سره دابو قتاده رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله ﷺ جيش الامراء واستاوه ...حديث ترپايه... زرقاني ۲توک ۲٦۸مخ)

زيد بن حارثه رضي الله عنه ته يې يو سپين بيرغ ورکړ ويې فرمايل: لومړی هغه خای ته تلل چيرته چې حارث بن عمير رضي الله عنهشهد شوی او دهغه خای خلک اسلام ته راوبلئ که هغوی داسلام دعوت قبول کړفبها ونعمت او که يې انکار وکړدالله تعالی نه مرسته او اعانت وغواړئ اودهغوی سره جهاد و قتال وکړئ !

ترثنية الوداع پورې پخپله دلښکر سره لاړ ، هلته (ثنية الوداع) دلړ خنډ لپاره تم شو وصيت يې وکړ چې:

په هرحال کې تقوا او پرهيز گاري ملحوظ ولرئ دخپلو ملګرو سره همدردي کوئ دالله تعالی په لار کې دالله تعالی په نوم دکافرانو سره قتال وکړئ ، غدر اوخيانت مه کوئ هيڅ ماشوم، ميرمن، او سپين روبی قتل نکړئ

خلکو چې لښکر رخصت کړ، نو عبد الله بن رواحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وژړل، خلکو تري وپوښتل:

اې ابن رواحه! ولې ژاړې؟

نو عبد الله بن رواحه ځواب ورکړ:

اَمَا واللهِ حُبُّ الدُنيَا ولا صَبَابَةٌ بِكُم ولَكِنِّي سَمِعتُ رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقرأ آيَة مِن كِتَاب الله عزَّ وجل وَ اِن مِنكُم اِلّا وَارِدُهَا كَانَ عَلى رَبِكَ حَتماً مَقضيا فَلَستُ أدرِي كَيفَ لِي بِالصَدرِ بَعدَ الوُرود

ژ: خبرشئ! په الله سوګندنه زما ددنیا سره محبت شته او نه تاسو سره لیکن ما اوریدلي چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دالله تعالی کتاب دا آیت لوستە: له تاسونه هیڅ شخص نه، مګر داچې هغه به خامخا په دوزخ تیریږي او دخدای په نزد پریکړه شوې ده،نو زه نه پوهیږم چې جهنم ته دتلو نه پس به بیرته راوتل څنګه وې؟ زکه ژاړم

لښکر چې کله روان شو مسلمانانو چغیه کړه !الله تعالی مو تول ، روغ رمټ او کامیاب راوله! په د ې سره عبد الله بن رواحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ داشعروویه:

لَكِنَنِي أسئَالُ الرَّحمن مغفرةً

وَضَربةً ذَاتَ فَرعٍ تَقذفُ الزَّبَدَ

ژ: زه بیرته راتلل نه غواړم بلکې دالله تعالی نه مغفرت او دهغه په لاره کې ددا سې ژورو ټپونو ارزو لرم چې زړونه وشیندي

حتّى يُقَالَ اذا مروا على جَدثِي

أرشدَه الله من غَازٍ وَ قَد رَشَدَ

ژ: تردي پورې چې کله خلک زما په قبر تیریږي ووایي، واه! واه څه غازي و او څنګه کامیاب شو

کله چې شرحبیل ته ددي لښکر د روانیدو خبر ورغی نو دیولک څخه زیات خلک دمسلمانانو دمقابلې لپاره جمع کړل، هرقل پخپله هم دیولک لښکر سره دشرحبیل دکومک لپاره بلقاء ته راغی، دمعان په نوم ځای ته په رسیدو مسلمانانو ته معلومه شوه چې د دوه لکه څخه زیات لښکر د دوی مقابلې لپاره په بلقاء کې غونډ شوی دی ، مسلمانان دوه شپې هم هلته په معان کې تم شول، مشوره یې کوله چې څه وکړو، رایه داشوه چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته به خبر ورکړو او د هغه حکم او کومک تر راتلو به به انتظار وکړو عبد الله بن رواحه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وویل:

اې قومه! سوګند په هغه ذات کومه خبره چې تاسو نه خوښوئ هغه شهادت دی، دکوم په مندلو پسې چې مور راوتلي یو مور دکافرانو سره په قوت او کثرت نه جنګیګو، زمور جنګ داسلام لپاره دی الله تعالی مور ته عزت رابښلی پورته شئ او روان شئ له دوه کامیابیو څخه یوه خامخا ترلاسه کړئ یه به په کافرانو غالب شئ او یا به دشهادت له نعمت څخه برخمن شئ

خلکو وویل: په خدای تعالی سوګند ابن رواحه رښتیا وایي، په دې سره دخدای پالونکو او دخانه تیرو عاشقانو درې زره کسیز لښکر د دوه لکه څخه له زیات لښکر سره دمقابلې لپاره موته ته روان شو ، دموته میدان کې دواړه خواوې دیو بل سره مخامخ شوې. نور بیا...

جنګي جنایتونه (سپتمبر)

سید سعید

د ۲۰۱۸ز، کال دسپټمبر دمیاشتې په لومړۍ(۱) نیټه یرغلګرو اوداخلي عســـــــکرو دننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په کوزبهار سیمه کې دچاپې په مهال یوولس تنه ملکي هیوادوال شهیدان کړي دي.

د سپټمبر په ۳مه د شپې مهال اشغالګرو او داخلي عسکرو د ننګرهار ولایت دحصارک ولسوالۍ په ګاړي سیمه کې د ملکي‌وګړو په کورونو چاپه وهلې، دتلاشۍ په وخت کې یې نهه تنه دښځو او ماشومانو په ګډون شـهیدان او درې کسان ټپیان کړي دي.

د سپټمبر په ۴مه اشغالګرو دمیدان وردګ ولایت د سیداباد ولســـــوالۍ دتنګي درې په علم خیلو او ورسک کلیو چاپه وهلې، دکورونو دروازې یې په بمونو الوزولې، د تلاشـــــــۍ په مهال یې دخلګو مالونه وړي،دخلګو موټر یې سوځولې، د ورسک او علم خیلو تر منځ د لسګونه زره ډالرو په لګښت جوړ پل یې الوزولی او په اخر کې یې ځلور تنه ملکي‌وګړي دبندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د سپټمبر په ۴مه دغور ولایت د ساغر ولســـوالۍ مرکز ته څیرمه داخلي عســـکرو د دارالعلوم عالیې دیني مدرسې ټول کتابونه او اسباب سوځولي دي.

د سپټمبر په ۵مه داخلي عســکرودلغمان ولایت د بادپښ ولســوالۍ په ګروچ سیمه کې عملیات کړي،د ځایې خلګو په وینا په دې عملیاتو کې عسکرو یوولس تنه ملکي‌وګړي په ډله ییزه توګه شهیدان کړي دي.

د سپټمبر په ۹مه دهلمند ولایت د ګرشک ولســوالۍ په ډاګیانو سیمه کې دحکومتي قواوو دهاوان په پیرونو کې یوولس تنه ولسي‌وګړي شهیدان او ټپیان شوي دي.

دسپټمبر په ۱۱مه یرغلګرو او داخلي عسکرو دننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په نکړخیلو سیمه کې د ملکي هیوادوالو په کورونو چاپه وهلې،یو سپین ږیری یې شهید کړی، دخلګو مالونه یې لوټلي،په ســیمه کې دیوازیني روغتون درمل یې سوځولي او د سیمه ییز ښوونځي یو برخه یې ویجاړه کړې ده.

دسپټمبر په ۱۶مه د پکتیکا ولایت د ووړمې ولسوالي په سید خیلو سیمه کې اربکیانو د ملکي خلکو په کورونو دهاوانونو مرمۍ اوروله، چې له امله یې د ښځو او ماشومانو په ګډون دیوې کورنۍ اته تنه غړي شهیدان شوي دي.

د سپټمبر په ۱۷مه د ننګرهار ولایت دخوګیانو ولسوالۍ په وډیسار سیمه کې یرغلګرو اوداخلي عسکرو دچاپې په مهال شپاړس تنه ولسي‌وګړي شهیدان کړي دي.

د سپټمبر په ۱۷مه د غزني ولایت دشیبکوه ولســوالۍ د کین په سیمه کې دداخلي عســـکرو په ډزو کې یو ملکي وګړی شهید شوی دی.

د سپټمبر په ۱۷مه دارزګان ولایت د دهراود ولسوالۍ د چتو په سیمه کې یرغلګرو دداخلي عسکرو په ملتیا دچاپې په مهال دخلګو په کورونو کې خوراکي توکي او سامانونه سوځولي او یو ملکي کلیوال یې شهید کړی دی.

د سپټمبر په ۱۷مه اشغـالګرو د داخـــــــلي عسکرو په ملتـــیا د ارزګان ولایت د مرکـــز تریـــنکوټ په

کوټوالوپه سیمه کې چاپه وهلې او څلور تنه ملکي وګړي يې شهيدان کړي دي.
د سپټمبر په ۱۸مه د ارزګان ولايت دمرکز ترينکوټ اړوند دپای ناوې د ابردي په سيمه کې دداخلي عسکرو دهاوان په ډزو کې شپږتنې نجونې شهيدانې او دوه تنه ماشومان زخميان شوي دي.
د سپټمبر په ۱۹مه د ننګرهار ولايت د شيرزادو ولسوالۍ په پيټلاو سيمه کې يرغلګرو او کورنيو عسکرو دچاپې په مهال د ملکي خلکو د کورونو دروازې په بمونوالوزولې، کورونه يې لوټ کړي او لس تنه عام کليوال يې شهيدان کړي دي.
د سپټمبر په ۲۰مه د پکتيا ولايت د څمکنووولسوالۍ د نوزی په کلي ديرغلګرو په بمبار کې څلور تنه ملکيان شهيدان او څلوارلس ماشومان زخميان شوي دي.
د سپټمبر په ۲۰مه د ننګرهار ولايت د شيرزادو ولسوالۍ په سرخ آب سيمه کې اشغالګرو او داخلي عسکرو د ملکي وګړو په کورونو چاپه وهلې، نو لس تنه ملکي هيوادوال يې شهيدان کړي دي.
د سپټمبر په ۲۲مه دکندهار ولايت دمعروف ولسوالۍ د اسحاقزو په سيمه کې يرغلګرو او داخلي کمانډويانو دچاپې په مهال دوه تنه سپين ږيري شهيدان کړي او خلګو ته يې پراخ مالي زيانونه اړولي دي.
د سپټمبر په ۲۳مه د فراه ولايت د خاکسفيد ولسوالۍ په مختلفو سيمو کې دحکومتي قواوو په عملياتو کې پنځه تنه ملکي وګړي شهيدان شوي او يو شمېر نور ژوبل شوي دي.

د سپټمبر په ۲۳مه دکندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ د سره بغل او کانټېنربازار په سيمو کې داخلي سپېشل فورس او يرغلګرو عسکرو عمليات کړي،دغايې خلګو په وينا په دغوعملياتو کې يرغلګرو او داخلي عسکرو لس تنه ولسي وګړي شهيدان کړي، چې دوه جسدونو ته يې اور هم اچولی او يويشت تنه کليوال يې بنديان کړي دي. په دې عملياتو کې ولس ته پر ګاني زيان سربيره خورا دروند مالي تاوان هم اوښتی دی.
د سپټمبر په ۲۷مه د فارياب ولايت د المار او قيصار ولسوالیو ترمنځ دسقه کوتل په سيمه کې يرغلګرودملکي خلکو پر يو موټر بمبار کړی چې له املې يې په موټر کې سپاره ملکي وګړي ټول شهيدان اوسوځيدلي دي.
د سپټمبر په ۲۸مه دهلمند ولايت د نوزاد ولسوالۍ د برنوزاد په سيمه کې يرغلګرو او داخلي سپيشل فورس عسکرو دخلګو په کورونو چاپه وهلې،وروسته يې دوه کورونه او يو مسجد بمبار کړي،چې لس تنه ولسي وګړي پکې شهيدان شوي دي.
د سپټمبر په ۳۰مه د نيمروز ولايت د دلارام ولسوالۍ د بازار په مربوطاتو کې دغايې عسکرو په ډزو کې دوې ښځې شهيدانې شوې دي.

مأخذونه :[بي بي سي راډيو،ازادي ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک ،خبريال ويبپاڼه ،لراوبر=

د مورچل وږمي

دمینې لیوني ته!

جانان خدرخېل

څه سپېڅلی دې مقام دی لېونیه
ستا جنون ته مې سلام دی لېونیه

مجنونان په ځنځیرونو دي تړلي
دې قانون ته خو دې پام دی لېونیه

ولچکونه، زولنې دې مبارک شه
بس د مینې دا انجام دی لېونیه

ستا په څېر چې په لمبو ګډېدای نشم
زما عشَق خو یو څۀ خام دی لېونیه

ته غلام یې او بدنام یې، دوی آزاد دي
دوه هواوې دي ، یو بام دی لېونیه

لمونځ قضا شو او دیدن دې قضا نکړ
نور خو بس کړه تور ماښام دی لېونیه

د غیرت او د مېړانې هم یو حد وي
او دا حد په تا تمام دی لېونیه

د بې ننګو مېنه ارګ ده "خدرخېله"
د مئینو ځای باګرام دی لېونیه

له پګړیو وینې څاڅي

دې کلي کې دخلقو له زړګیو وینې څاڅي
مالیار زخمي زخمي دی له غوټیو وینې څاڅي

تسپي دانه دانه دي او امام هم شهید پروت دی
د سپینو طالبانو له پګړیو وینې څاڅي

ګیدړې شغالان په دې ځنګله کې ټول محفوظ دي
له پښو د څو نازکو سرو هو سیو وینې څاڅي

وزرې اوبنکې د دې شاړو مینځ کې ښکاري
اوف بیاله څو شهیدو توتکیو وینې څاڅي

بیا څو پتمنې پېغلې د ملالۍ په پله تللې
دزهرا او څو پیغلوټو له ټکریو وینې څاڅي

د وینو سره ډنډونه په ګودر باندي بهیږي
له څو ماتو کودو د شنو منګیو وینې څاڅي

دیدن ته یې ساجده حوري څه وخت رارسیږي
د شهید جانان له سوو اسوېلیو وینې څاڅي

شعر

ساقیار

په مورچل کې ګرځېدمه هم تر داره تلمه
چې پر اوروتو تپرېدمه هم تر داره تلمه

ستونزمنې لارې چې مې پل کړې په تباکو ټلو
پر هسکو غروتو اوښتمه هم تر داره تلمه

ستاپه خلاف چې مې دعزم توره وبرېښوله
ستا تر انګېره چې درتلمه هم تردراره تلمه

دا دایثار او قربانیو لاره تتې مه کړې
که نه وای زه به نو له کومه بیا تر داره تلمه

د دار دپړې پر تنه به مړی ولې نېږدم
زه چې تر تا را رسیدمه هم تر داره تلمه

زما دسنګر، زما دحجرې، زما دزندان ملګرو
قسم په خدای درته کومه هم تر داره تلمه

ماته یې ژوند دابدیت راکړ ،رضا دحبیب
تر دې دوا تر دې مرهمه هم تر داره تلمه

زما دسر په بدله به دا ټیلا ازادي
راځي په دا مو خبرومه هم تر داره تلمه

راز یې دمینې راته پریښود نور مو خوښه خپله
ویل غازي اشنا چې تلمه هم تر داره تلمه

دعمري لښکر زلمو ته مې پیغام واوروه
وا (ساقیاره) چې به تلمه هم تردراره تلمه

بمبارونه او چاپې

مظلوم کوچی

قتل عام دي اومرګونه دي چاپې دي
وحشتناکه بمبارونه دي چاپې دي

هره ورځ مو جنازې پر اوږو بار وي
هره شپه شهادتونه دي چاپې دي

د یوه کور لس پنځلس شهیدان وي
داسي سترستر وحشتونه دي چاپې دي

نه مو غم نه مو خوشي ته پرېږدي خدایه
فاتحې دي کسه ودونه دي چاپې دي

دطالب او تروریست په طور مو وژني
بېله جرمه عام قتلونه دي چاپې دي

ټول جهان دبېغمي په خوب ویده دی
نا ارام زمور خوبونه دي چاپې دي

ای مظلومه د پوښتني سړی نشته
پرمظلوم اولس ظلمونه دي چاپې دي

۲۰۱۸ زکال

د سبتمبر د میاشتې جهادي خبرونه



دیتیم اوښکي

شاعر: زاهدزاده فراه رودي

ستا اراده وه چي شيرين افغانستان وخوري !
زمونږ د ننګونو او ويارونو افغانستان وخوري !

ته وي مغروره په بي دوه پنځوس جنګي اژدها
ځکه دي هوډ ؤ چي هم غرا وهم بيابان وخوري

درته کارنکړي اپاچي، بليک هاک، چينوک چورلکي
زما داولس قاتله دلته به نور ځان وخوري !

ته دانګريز، چنګيز، ګورګين اوروس په پله يي روان
ښکاري چي نور به دا بړيڅي اويا ران وخوري

دنړۍ بام کوي سينګار دامارت سپين توغ ته
دکليسا ناولي زنګ به مو آذان وخوري !

د فراه رود، هلمند، کونړ، آمو ياغي موجونه
مستي څپي به يي دوخت فرعون هامان وخوري !

دتورو شپو وروسته رنا دسباؤن را درومي
د پسرلي نسيم به ورږم دخزان وخوري !

(زاهدزاده) نزدي ساحل ته ده دهيلو بيړۍ
ديتيم اوښکي به دهر غليم ارمان وخوري !

په روانه میاشت کې د کره راپور په اساس امریکایي یرغلګرو او داخلي کودټاګیانو
په کډو چاپو کې ۷۱۳ ملکي خلکو ته مرګ ژوبله اړولې!

MORCHAL

Islamic, Jihady , Educational
and Cultural Monthly Journal